# انګريزي استعمار او افغانستان

**پښتونخوا ادبي ځانګه کويټه**

**ليکونکی :         اولس يار**

Ketabton.com

Downloaded from: ketabton.com

# <u>ټړون</u>

له ۱۸۳۸ څخه تر ۱۹۸۱ م پورې د ملي خپلواکۍ او ټولواکۍ او ټولنیز ادالت د پاره د نړیوال سامراج (چې لومړۍ یې انګریزي او اوس یې امریکي سامراج په سر کښې دی) استعمار، نوی استعمار، او ډول استثمار په ضد مبرزه کې د جنوبي مستعمره پښتونخوا د اسمان مالومو او نامالومو مبارزو او سپیڅلو شهیدانو ته ، چې ځینې ځلانده ستوري پکښې دا دي،

اودولاخان اڅکزئ، پیز مامد ترین، غوث مامود کاکړ، همزه کاکړ، ارسلا خان اتمانخیل کاکړ، مشو خان مرانی، ازمیر خان مندوخیل، ساوڼ موسی خیل، ګلباران جوګېزئ، شېر جان کاکړ، زریپ زده کوونکی، سادېک کاسی، او خان شهید اودل سمد خان اڅکزئ، .

| فهرست |
|---|
| لومړئ باب |
| ۱. انګریزي استعمار ګام په ګام |
| له شاه زمان څخه تر لومړي انګریز یرغله |
| ۱۷۹۳ تر ۱۸۳۸ |
| ۲. د شاه زمان په هندستان دویمه حمله |
| ۳. د شاه زمان دریم ځل لاهور ته تګ |
| ۴. د افغانستان په باره کې د فیرنګي استعماري سیاست |
| ۵. د مهدي علي خان او جان ملکم مشنونه |
| ۶. د جان ملکم او فتح علي خان لوظنامه |
| ۷. د پاینده خان او نورو سردارانو وژل |
| ۸. دشاه زمان ماته او ړندیدل |
| ۹. شاه مامود د افغانستان لومړئ ځل باچا |
| ۱۰. د انګریز ډیلی نیول |
| ۱۱. حاجي پیروز او هرات |
| ۱۲. شاه شجاع |
| ۱۳. د فیرنګي استازی |

Downloaded from: ketabton.com

# سریزه

يو نامتو تاريخ پوهاند ويلي و، چې د افغانستان سيمه له لمړيه څخه د ګړد تاريخ څلور لاره ، چوک او چارسو وسيدلې دی.

دلته د شاوخوا د نړۍ د هر لوري څخه د راپاڅيدلو انساني څپو مخه شوی ده.دلته د بيل بيل ناغ/ نسل اولسونه او د هغوي تمدونونه سره نښتي او يو ځائ شوي دي. دغه حقيقت د دی سيمی پر استوګنو خپلی نيکمرغه اغيزې هم واچولې او بد مرغه يې هم تر شا پريښودلې.

يو قوم چې په داسی چارسو ميشت وي، او پر خپل ټاټوبي او خپلواکی او خپلو ځانګړو دودونو بيخي د ليونتوب تر څنډی مين وي، نو هغو ته وچې کلکې دوې روغې وړاندې دي. يا خو به په دا دومره لويو پياوړو څپو کې د تل لپاره ورکيږي ـ او خپل نوم او نښان او هر څه به بايلي او يا به ډغرې ورسره وهي.

د سکندر يوناني له وخته چې ليکلی تاريخ رابرسېره شوی دی بيا تر مغولو او فرنګيانو پورې دا حقيقت د لمر غوندې ځلانده دی چې دوي له هريوه راتلونکي يرغلګر سره ډغره وهلی ده ـ د دی پرله پسې ډغرو، نښتو او هلو ځلو پائ دا شوه چې دا وګړی د جنګ او ننګ ،ميړاني وتلي اتلان او پهلوانان وګرځيدل او په دوي کې داسی سر لوړي او کړه وړه وروزل شول ، چې د شاوخوا نړۍ هيڅ اولس او خلک دوي د ځان سيال نه ګڼه، او په دوي کې د ښو او بدو هغه آر او مايار ، هم دغه خپل خوئ بوئ ، پښتو او پښتونوالی وګرځيدله. پښتو د دوي لپاره د واړو سپيڅلو ، درنو او روښانه انساني قدرونو يوه مجموعه شوه، او د دوي تر ټولو لوئ پيغور دا سو چې ،، چې ته هم پښتون يې ،، .

د تاريخ پر چوک د استوګنې هغه تر ټولو غټه بدمرغي دا وه چې دا قوم د تاريخ په اوږدو کړليچونو کې تر ترتله په نښتو، چنګ درب اړخ او هله ګله اخته وو. کډه په شا اوسېدلې دي. دغه ډول چاپيرپال د دی سيمې وګړي ځښته پياوړي جنګيالي او ننګيالي ميړونه خو جوړ کړل مګر دغه کړه/عمل دومره تر څورګې سره وځکيده چې په دوي کې ځان ځاني بې کچه ډيره پيدا شوه او له دوي څخه يې بهترين جنګيالان مګر بدترين سپاهيان جوړ کړل او منځنی قومي لښکر يې په پيېلی او منظمه توګه نه شو ترتيبيدلائ. د پيوست /دومدار جنګ او نښتو پائ دا شوه چې پښتانه د علم او پوهنی او هنر و کارونو ته نه شول اوزګار او دوي د ليک لوست له خوا دومره پاتی راغلل چې له دوي خوارانو هغه د علم ډير برکتونه خو پريږده ، بيخي هغه خپل وړياړلی تاريخ هم لا ځينې هير شو. او د يو چا وينا ده چې له کوم قوم څخه خپل تاريخ هير شي د هغه بنه/مثال داسی وي لکه يو سړی چې د يادداښت /حافظه قوت وبايلي.

په انساني ذهن کې د يادداښت قوت د يوه منځني برېښنتون غوندی دی. چې هم له دغه څخه د انساني ذهن هر ې يوې ګوښې ته رڼا رسيږي. او د همدی له کبله وده کوي. اوس دی نو لوستونکي ځانته په خپل ذهن کې د يو داسی سړي چې يادداښت يې بايللي وي يا نيمګړي وي ، نخښه وسنجوي.

Downloaded from: ketabton.com

دا سړی به د دی خپلی بنیادي نیمګړتیا له کبله د ذهن په ټولو برخو کې نیمګړی وي. دده په کړه وړه او خوئ بوئ کې به پییل او ترتیب نه وي ـ د ښکارندویو ځرګندو حقایقو به سیخه سمه نتیجه نه سي ایستلائ.

اوس راشی مونږه د پښتون قوم حالت او د دغه لوړ ،بې حافظې سړي حالت سره وګورو، نو به مونږ ته د قوم دپاره د خپل تاریخ اهمیت ځرګند شي. دا خو د جهل او ناپوهی تیارې په مونو خورې ورې وې. چې د باندینو/بهرنیو یرغلګرو و ځانته / علاوه زمونږه د هیواد کورنۍ استثمار د خانانو ، پیرانو ، ملایانو او آفیسرانو په بڼه کښې خپل ځکېدلي اوړدئ دلال جوړاوه، هغوي یواځې د خپلي خیټې لپاره بشپړ قوم او وطن د جنګ و سرو لمبو ته غورزاوه او بل ته یې مریې کاوه. او مونږه د وطن او اولس خلاف د دې استعمار او استثمار په یو والي نه پوهېدو. یرغلګرو لیوانو دوړې او باران غوښت چې په دغه حالت کې دوي خپل شوم مراد ښه ترسره کولائ شو.

مونږه په خپلو کورنیو بدیو او میرڅیو ، خورا ښې سپېرې دوړې سره پورته کولی ، او د دغو له کبله مو د خپلو وینو باران په ځان اورولو . او دښمنان مو د خپلو ځکېدلو دلالانو په مرسته پر خپله ښکلی خاوره غویمنډ ته ایله کړي وو. یرغلګرو داسې ګوزارونه راکړل چې مونږه یې غوټ سره پریکړو او بیا یې بیا ځله وویشلو او د قبایلو او ایجنسیانو او د نور ډول ډول نومونو په لومو او زندیو کې یې د وطن پلورونکو د نوکریو، خانشنینو او اطلاعات الاونسونو پر دانو ونیولو ، الوتل راڅخه پاتې شو او غلامان شو. بادارانو چې څه راسره کول مونږ منل.

د وخت له تیریدو سره د لومو او زندیو رنګونه او نومونه هم بدل شو. او هم د دلالانو کړه وړه د زمانی سره سم بدل شو. ښاغلی اولسیار صیب د ټولو پښتنو د مننې او ستایینې وړ دی چې د فیرنګي او افغانانو د نښتو یوه خاکه یې په سوچه پښتو کې پښتو لوستونکو ته وړاندی کړه. زما ښاغلی وکیل صیب ته دا خواست دئ چې د مغلو او پښتنو د نښتو هم دغسې یوه خاکه راوباسي لکه دا اوسنی. ولس چې اورنګ بیا فیرنګ او له هغه وروستو فیرنګ په بل رنګ، دا ټوله نقل یو په بل پسې بشپړ مضمون دی او د نوي پښتون ټبر وینښ ځلمیان چې پر خپل تیر تاریخ ښه کره نظر ولري. ولی چې له دی ډیره زده کړه کیدلائ شي. او د کومې ځلانده بیا او راتلونکی لپاره چې دوي هلې ځلې کوي ، د دی لپاره پخوانۍ تجزیي ډیرې پکاریدلائ شي.
دا زمونږ د تاریخ هغه ویاړلی ځائ دی چې که په مونږ کې ځکیدلي دلالان شته نو د قام د پت او ننګ ساتونکو او پالونکو هم یو بهیر شته ، چې تل دوي د دښمن مخ ته دریدلي دي. د پښتنو او افغانانو د هیواد یوه سیمه هم د داسی ننګیالیو خالي نه ده اوسیدلې. تر اوسه پوری ه د هغو د میرانی او ننګ سندرې د وطن په هر ګوټ کې ښه په ویاړ او خوند وییلي کیږي.

د شلمی پیړئ دی ځرخ د ځښته پریوتلو قومونو لپاره هم د اولسي پاڅون او خپلواکی زیری د خپل عیني قوانینو سره سم راوړی دی. اوس د نړئ داسی ګوټ نه دی پاتی چیری چې اولسونه نه دي راپاڅیدلي او د خپل ځلانده راتلونکي لپاره هلې ځلې نه کوي. هر چیرې خپل چاري (خودغرضه) استثماري مشران او واکداران پرزول کیږي مګر زمونږ د هیواد پر اولسي عظیم د ثور پاڅون چې ځومره هائ هوئ جوړه سوی ده ـ او د دروغژنو دوړویو یو لوئ خوپ پورته سوی دی او سیمه بین الاقوامي انډوخر پله ښخه ده . چیری داسی خو نه دې چې د دی دوړو او خوپ په ولوره کې بیا مونږه ته چا بده پړلې / ټاکلی ده ؟؟

اوس د مزکې تناوونه سره ځکېدلي دي.د پوهنی او علم رڼا دومره ډیره شوی ده چې تیاره هیچیری هم ورته نه شي ټینګیدلائ . پښتنو او افغانانو ته هم د نوې انقلابي زمانی د ځښته

Downloaded from: ketabton.com

دلته د باندني شوکمارانو (نړیوال سامراج چې په سر کې یې امریکي سامراج دی) او د هغو له مونږ څخه د رانیولو څکېدلو دلالانو (وطني استثمار او رجعت) تکې توري بد مرغه ناروا لښکرې او د ویښو ځلمیانو د خپلواکۍ او حق پرستۍ او ترقۍ د سپین سباون اولسي لښکرې په خرپ سره نښلي. دا وخت په نړۍ کې بې استثمار ټولنه جوړونکي ملکونه چې سر یې عظیم اکتوبر انقلاب کېښودلو او د نورې نړۍ په هر ګوټ کې د ملي او طبقاتي خپلواکۍ د غورزنګونو ورخ په ورخ پر مخ تلل او بریالي کېدل ، د ویښو ځلمیانو ملاتړ دي.

څومره په خروښ ، بیړه او پیپلۍ توګه چې ځلمیان انقلابي نوی رڼا په یو منځني سنجېدلۍ او سره تړلی تکنیک خوروي ، په هغه انداز به زمونږه د ننګیالي اولس جر ګې او مرکې سره غونډیږي. زمونږه په دود کې هم دغه جرګې او مرکې تر ټولو لومړی مهم کار دی. که یو ځل خو مونږ دغه پړاو ته ورسیدلو نو بیا زمونږ د اولس ګامونه خورا اوږده او آزمویيلي ګامونه دي. د اوسني بین الاقوامي انډوخر مخ نیوي بې د دغو جرګو مرکو بیخي نشي کیدلائ.
ویښ ځلمیان د اولس هغه ذهن او مغز دی ځکه خو دوي ته د پښتون خواري کښ اولس هیله ده چې دوي د نوی انقلابي زمانی کومې علمي رڼاګاني موندلي دي. هغه دی خپل اولس ته په هاغه اسانه او ساده ژبه کې ورسوي چې ډیرئ اولس وربانډی پوهېدلائ شي.

ویښ پښتانه باید چې د ښاغلي اولس یار د دی تېوسونو ښه ځیره پلټنه او پلغړنه وکړي چې زمونږه په تاریخ کې دا پیښه ولی بیا بیا شوی ده. چې ګټلي جنګونه مو سلا بلا په نه څه بایللي دي.

د یونانیانو د یوی پخوانی کیسی له رویه د خپلواکی ناوی ته یواځی هغه څوک رسیدلائ شي چې د وینو په سیند کې لامبو وهلی شي. اوس که مونږ د هغو وینو اټکل وکړو چې له مودو زمونږ میړنیو په خپله خاوره توئ کړې دي او خپل ننګیالي سرونه یې تری ځار کړي دي، نو دا تپوس ځښته کره پلغړنه او ګوړنه غواړي چې دا دومره ډیره سربښندنه او دا دومره ډیره وینه زمونږه د خپلواکی د ناوی ولور ولی نه شو ؟؟؟

د ښاغلي وکیل صیب د کتاب لوستونکي به یو څه ټاکلي ځلمیان وي. او هیله ده چې دوي به دغه کتاب لاس په لاس د پښتونخوا هرې څنډې ته رسوي. او ژر به یې ختم کړي. کله چې د بل چاپ نیټه راغله هیله ده چې اولس یار صیب به دغه اولسي سندرې ،،

سردار مامد ایوب خان وکړل جنګونه
بر سرګورئي راوستل پوځونه

Downloaded from: ketabton.com

او ،، دوست مامد وويیل خدایه کله به سهار شي....... ،، او داسې نورې هرمرو پلټي او په خپل کتاب کې به یې په خپل خپل ټاپې ځایوي. دا به کتاب نور اولسي او خوندمن کړي. له نورو ویښو او لوستو پښتنو که هغه د مدرسو د نظام تعلیم پېداوار دي او که د سکولي نظام له ټولو څخه دا هیله ده چې دوي به د خپل قوم علمي نیمګړتیاو ته وګوري او د اوسنی زمانی د ځلانده انقلابي ساینسي نظریو په رڼا کې به د خپل قوم هر اړخیزه اړتیا په سترګو کې وساتي. او خپلې لیکنې او څیړنې به ډېر ته راوباسي. ولی چې نوي ځوانان د پښتو لیکلي شیان دومره لږ وینې هسی نه چې دوي یې داسی وګڼي چې پښتانه دا کار کولائ نه شي.

شیراني
۲۷ ستمبر ۱۹۷۹

Downloaded from: ketabton.com

# لومړئ باب
## انګریز استعمار ګام په ګام
### (له شاه زمان څخه تر لومړي انګریز یرغله)
### ۱۷۹۳زک څخه تر ۱۸۳۸ ز ک

---

افغانستان ته د انګریز استعمار خونخوارې منګلي ، د لمړي ځل لپاره د شاه زمان (۲۳ می ۱۷۹۳ څخه تر ۱۸۰۱) په وخت کښې ، راوغزېدلی. که څه هم دا وخت دا لړه هم درک نه شوه په دی ، دلته د افغانستان د شاوخوا سیمې د هغه وخت سیاسي حالاتو لنډ شان بیان پکار دی.

د احمد شاه بابا (۱۷۴۷ تر ۱۷۷۳) وروسته د ده زوی تیمور د هیواد باچا شولو ، شل کاله حکومت یې وکړلو، او په ۱۷۹۳ کې مړ شولو. د ده څخه د مړینې په وخت یوویشت زامن پاتې شو. چې په هغوي کې همایون، مامود، پیروزابدین له یوې مور او شاه زمان او شاه شجاع له بلی مور څخه وو. پنځم زوی زمان د پلار په ژوند والیعهد جوړ شوی و. نو د پلار له مړینې وروسته په دریشتم می ۱۷۹۳ دشاه زمان په نامه باچا شولو.

د احمد شاه بابا له وخت څخه حکومت قبایلي سردارانو چلاوه.چې د ولایتونو والیان، او په جنګ کې به سرداران هم دوي وو. دا وخت دا سرداران، په یوې نوې امتیاز لرونکې طبقې بدل شوی وو. د افغان اولس په استحصال اخته شوي وو، د وطن مینه یې لږه شوې او په ذاتي اعراضونو، کې تر هر څه تیر وو. په دوي کې زوره ور ځائ د جمال و، چې د شاه زمان په وخت کې د ده زوي پاینده خان د وزیر اعظم ځائ درلودلو.

تر ستلج پورې پنجاب، کشمیر او سندهـ د افغان فیوډالي دولت لاندی وو. او له خان قلات سره یو ډول اتحاد و، هلته د اروپا هیوادونه د پانګوالی دور ته ورګډ شوي وو. په انګلستان کې د کراموېل په مشری کښې ، په اولسمه پیړئ عیسوئ کې سرمایه داري انقلاب راوستل شوی و.

د امریکه متحده ایالتونو په کال ۱۷۸۳م کې د انګلستان د مستعمری (نو آبادي /کالونی) له حیثیت څخه ځان ازاد کړی و.

د فرانس بورژوا انقلاب په کال ۱۷۸۹ کې راغلی و، باچایي یې پائ ته رسولی وه او فیډالي نظام یې مات کړلو.د اروپایي هیوادونو سرمایه دارانو (پانګه والو) د نړئ په شوکه او علاقایی ویش لاسونه پورې کړي وو.

د دی ملکونو سرمایه دار حکومتونو د سرمایه دارانو د استحصالي (استثماري) غرضونو لپاره د ټولی نړئ د ویش ، نیولو، او په ټولو چارو کې د مریبتوب کړنلاره غوره کړله. او د دی لپاره یې د زور، دسیسو (سازشونو) ، بډو، تیر ایستلو او دروغو طریقو سره سم پر ټوله نړئ وینه تویونکي او ویجاړونکي جنګونه وتپل، او د نړئ د دی بربنډی شوکی او د هیوادونو د دی ویش لپاره یې د یور پ ملکونه هم و د جنګ تنور ته وغورزول.

Downloaded from: ketabton.com

د اوړپا د پانګوالو دولتونو د ګټې اخیستلو لپاره ، نورو ملکونو په سیاسي ، معاشي او نورو ټولو چارو کې د مرئ کولو د هدفونو او د هغو د لاس ته راوړلو لپاره د دوئ راز راز طریقو، دا سیاست استعمار بلل کیږي. یا دی ته استعمار وایي.

د هندستان کوچنی وچی ته ، د انګریز سوداګرو ، ایسټ انډیا کمپنی، خپله لومړی کالوني په کال ۱۶۱۲ کې په سورت کې جوړه کړه. د فرانس او برتانیا سرمایه داری طبقې خپلو ملکونه، د منډې او نورو ملکونو د نیولو لپاره، یو له بله سره په وینو تویونکو جنګونو ښلولي وو. فیرنګي په هندوستان کې د ،، وویشه او حکومت وکړه ،، په سیاست عمل کاوه. او د جاګیردار او نورو امتیاز لرونکو طبقو سره ، د بډو، سازش، او د ګټو د یو والي په طریقو ، د هندوستان د اولسونو تر مینځ د تضاد د تیزولو، یو له بل سره جنګولو، او بیا یو په یو تر خپل لاس لاندی راوستلو په لار یې ډیر ګرندي ګامونه اخیستل.

په کال ۱۷۵۵ کښې ، فیرنګي جرنیل کلاییو په سهیلي هندوستان کې، فرانسیسي جرنیل ډوپلي ته ماته ورکړه. او پښې یې ټینګې کړې. بیا دغه کلاییو د بنګال نواب سراج الدوله ته په جون ۱۷۵۷ کې د پلاسي په میدان ماته ورکړه. او بنګال یې ونیولو. اوس نو د بنګال په سرو او سپینو او نورو وسایلو فیرنګی نور زوره ور شولو. بروکس ادمز وایي ، دا مبالغه نه ده چې د یورپ راتلونکې د بنګال په بري ولاړ و،، .

د بنګال د نیولو وروروسته، د ډیلي و لور ته مخ واړولو، چیری چې مغل عالمګیر ثاني باچا و، د هندوستان د جاګیردارانو له لاسه د اولسونو د خپل مابین د جنګ په سبب فېرنګیان بې د څه خنډه مخ په وړاندی تلل. په ۱۷۶۱ کې عالمګیر قاني ووژل شو. په دی شپو کې د ده زوی ولیعهد شهزاده علی جوهر ، د فېرنګي استعمار ګرانو د ټکولو لپاره بنګال ته تللی و. هلته یې له دوي څخه ماته وخوړله ، او په پټنه کې یې د بنګال دیواني هغوي ته ورکړه ، ډیلي (دهلی) ته راستون شو او د شاه عالم ثاني په نوم باچا شو.

د پاني پت په دریمه جهګړه کې ، د پاني پت په ډګر پر ۷مه جنوری ۱۷۶۱ د افغان لښکرو څخه ، چې د احمد شاه بابا په مشرئ کې جنګیدل ، مرهټه ماته وخوړه.

وروروسته انګریز میجر منرو (جګړن منرو) په کال ۱۷۶۴ م کې د بکس په جهګړه کې شاه عالم ثاني ته ماته ورکړه. فېرنګي وروسته ، دی تر خپل لاس لاندی ، د اله اباد او کوړه ضلعو (اولسوالو) باچا کړلو ، او پنځوس لکه روبې اطلاعات الاونس یې ورکړلو. د ده زوئ جوان بخت ، مرهټه سردارانو تر لاس لاندی باچا و. بیا دی بیرته مرهټه و ډیلی ته راوستلو ، انګریز له دی حالاتو څخه په ډیر ګرندیتوب پوره پوره ګټه اخیستله.

په ۱۷۷۳ کښې په کلکته کې انګریز ګورنر جنرل وارن هیسټنګر د اودهـ نواب ته په پنځوس لکه رویې باړه انګریز پوځ ورکړلو ، او د روهیلکنډ د حافظ رحمت خان افغان حکومت یې ونړاولو. دا یې هم پیسې واخیستلی او هو یې د روهیلکنډ دولت ختم کړلو. او اودهـ یې دومره کمزوری کړلو چې بل ګام به یې دلته و.

دا وخت د مرهټه او روهیله افغان سردارانو ، یو له بل سره منګلې وی. او شاه عالم ثاني کله د یوې او کله د بلې ډلی تر لاس لاندې و. د غلام قادر روهیله له لاسه شاه عالم ثاني ړوند شولو، بیا په ۱۷۸۵ کې ، د مرهټه سندهیا په حکم د غلام قادر روهیله لاس پښې پرې شوې، سندهیا د شاه عالم سپه سالار شو ، او دا ډول د مغل قدرت مات شو.

Downloaded from: ketabton.com

بله خوا ، روهیله افغان قدرت د نواب اودهـ په لاس ونړیدلو، بس پر ډیلي د مرهټه و تش د نامه واک پاتې و. او فیرنګي د ډیلي پوره نیولو ته ځان جمتو کاوه.

د هندوستان جاګیردارو دولتونو د یورپ د سرمایه داري استعمار مخه نشو نیولائ. په دی شپو ورځو کې د فرانس بورژوا انقلاب (کال ۱۷۸۹) په نتیجه کې ، د فرانس سرمایه دار دولت ، د نپولین بوناپارټ د حکومت بنه اخیستلو کښې و. او د یورپ نورو استعماري قوتونو سره، چې په سر کې یې انګریزي استعماري دولت و، په جنګ اخته و.

د سهیلي هندوستان په مېسور کې ، سلطان ټیپو چې له فیرنګیانو سره د مرګ او ژوند په مبارزه کې نښتی و، د فرانس و حکومت ته لیکونه لېږل رالېږل ، او هغوي ته یې پر هندوستان د فرنګي د ټکولو د پاره وییل. په پنجاب کښې ، سکهـ ، د بیلو بیلو سردارانو په مشرئ کې د قدرت د نیولو هلې ځلي کولې. د وزیر اباد رنجیت سنګهـ ، د ګجرات صاحب سنګهـ ، د لاهور ولیهنا سنګهـ او د امرتسر ګلاب د قدرت د نیولو په لور رهي و.

## شاه زمان ۲۳ می ۱۷۹۳ تر ۱۸۰۱

په دی حالاتو کې شاه زمان د افغانستان باچا شو. له دی سره سم ، د هندوستان بیل بیل قوتونه، لکه ټیپو سلطان، مرهټه، روهیله، د یو بل خلاف او بیا په تیره د فېرنګي د مخنیوي لپاره . شاه زمان ته د هندوستان د تګ بلنه ورکړه. له دی پرته، شاه زمان پخپله هم په دی پوهه و ، چې فېرنګی چې یو ځل په هندوستان کې پښې ټینګې کړي، نو آخري ګوزار به یې په افغانستان وي. نو د ده له لومړیو ورځو په هندوستان د برید چمتووالی و. د حکومت د واګو د تر لاسه کولو له لومړیو شپو څخه شاه زمان او د ده ورونه همایون، مامود، او فېروزالدین ( حاجي فېروز) سره په خپلو کې ونښتل. مشر ورور همایون یې درې ځلي په کندهار برید وکړلو، یا ئ ئې ونیولو، په پائ کې یې له کندهار سره، پر ۹م اګست ۱۷۹۵ ماته وخوړه. په لیه (ډیره غازي خان) کې ونیولی شو ، سترګې یې ویستل شوې او په ۳۰ م دسمبر ۱۷۹۵ م کې په کابل کې بندي شو. مامود، چاجي فېروز او د مامود زوئ کامران دی پله په هرات کې پورته شول، مامود دویم ځل په جنوری ۱۷۹۵ م کې ماته وخوړه، خو خپلی مور په شاه زمان وبخښلو او بېرته د هرات واي شولو.

په ایران کې اغا مامد کاچار د یو ایراني دولت جوړولو په تکل کې و، ایران د نادرشاه افشار (۱۷۳۷ تر ۱۷۴۷) په جلا جلا نوابیو کې ویشل شوی و. د شاه زمان د باچا کېدلو په وخت ، د ایران د خوا خراسان په مشهد کې ، د نادر شاه افشار ړوند نمسی ، شاه رخ د افغانانو په زور واکمن و. له دی سره په طباس ، مین او تورشیز کې عرب، د مشهد په قطب او په سهیل کې، د تربت حیدري تاجک اسحاق خان، او د مشهد په قطب لویدیځ کې کرد سرداران، ګونا خان، ظفر نالو، او ممیش خان د کبوشان (کوچان) او چنازان واکداران وو.

ازبکو په مشهد پرله پسې بریدونه کول، او د دولت آمدن (عایدات) د دی بریدونو د بندولو لپاره ، د شا وخوا سردارانو ته د بډو په توګه ورکول کیده.

Downloaded from: ketabton.com

د شاه زمان په ضد ، د همایون درې ځله او د مامود په هرات کې دوه ځله پورته کیدل ، په داسی حال کې کیده چې دی به د هندوستان په لور رهي و. یا به یې د دی لپاره ملا تړله. په دی به یو خو دی وځنډیده، او بل به یې زور مات شولو. خو په پایځ کې د کال ۱۷۹۵ په ورستیو شپو کې تر اباسین پر اټک پوری ووت، په حسن ابدال کې یې یو څو شپې وکړلی او په ۳م جنوری ۱۷۹۶ م بېرته پېښور ته وګرځیدلو. او بیا له دی ځایه کابل ته ولاړلو. په دې شپو کې آغا مامد قاچار ، ایراني خراسان یو کړ، په مشهد کې یې ، شاه رخ ونیولو ، او د ده زوی نادر مرزا کابل ته رسېدلو باندی په کابل کې شاه زمان سره ولیدل.

## د شاه زمان د هندوستان په لور لومړۍ برید (جنوری ۱۷۹۷)

شاه زمان د ۱۷۹۶م کال په کابل کې تېر کړلو، او په ژمي کې د هندوستان په لور رهی شولو، دی له کابل څخه په روانېدلو و چې د ایراني باچا مامد قاچار استازی ورته ورغلو ، بیا ده له هغه سره خپل استازی ایراني باچا ته واستولو، شاه زمان دا پلا ، د کال ۱۷۹۷ د جنوری په لومړۍ نیټه لاهور ته ورسېدلو، دا وخت په هندوستان کې د فېرنګي د مخنیوي وس هیچا نه درلودلو. بس یو د افغانستان د شاه زمان څخه په ویره کې وو. نو یې پر افغانانو د نظر ساتلو لپاره په انوپ ښار کې چهاونی جوړه کړه. او د ۴م بنګال رساله، او ۲۶ م، ۲۷م، ۲۸م او ۲۹م بنګال پیاده کنډکونه (رجمنټونه) یې جوړ کړل. وروروسته چې د شاه زمان لاهور ته د رسېدو خبر وڅغلو نو یې د بارې د دی پوځ د بنګال پیاده ۳۰م ، ۳۱م ، ۳۲م، ۳۳م ، ۳۴م ، او ۳۵م نوي کنډکونه جوړ کړل. شاه زمان په لاهور کې و، چې مامد په هرات دریم ځل پورته شولو، نو د ده د هندوستان تګ نیمګړی پاتی شولو او په چټکتیا سره هرات ته وخوځیدلو. پر ۲م جولایځ ۱۷۹۷ کندهار ته ورسېدلو. لا په کندهار کې و چې د آغا مامد قاچار د وژلو خبر ورته راغلو. د ده وروروسته د ده زوی فتح علی شاه قاچار په ۲۸ مه جولایځ ۱۷۹۷ د ایران باچا شولو.

خان قلات میر نصیر خان نوري د کال ۱۷۹۴ په پسرلي کې مړ شوی و. نو د قلات لښکر د ده د رویځ میر مامود خان په مشریځ کې شاه زمان ته کندهار ته راغلو. له دی وروستو باچا په رات برید وکړلو. مامود یې وتښتاوه او خپل زویځ قېصر یې هلته والي کړلو. مامود د ایران نوي باچا فتح علی شاه ته وتښتیدلو.

## د شاه زمان په هندوستان دویم برید (۴م جنوري ۱۷۹۷)

په ۲م دسمبر ۱۷۹۷ شاه زمان کابل ته ولاړلو او په ۴م دسمبر ۱۷۹۷ له هغه ځایه هندوستان ته رهي شولو.لاهور ته ورسېدلو هلته احمد خان بارکزیځ والي و. هلته خبر ورغی چې مامود په څلورم ځل په هرات د برید لپاره ښکاره شولو، قېصر په هرات کې د مامړد د لاسه قلابند شولو، باچا بېرته ډیر ګړندی کابل ته ستون شولو، دی چې هرات ته رسېدلو د هرات والی قېصر په جعلي لیکونو د بې باورۍ پیدا کولو په وسیله مامود بېرته تښتولی و. دا وار مامود بخارا ته ولاړ او زویځ کامران او ورور حاجي فېروز دویم وار فتح علی شاه ته وتښتېدل. د لاهور څخه هرات او له هغه ځایه بېرته لاهور ته د شاه زمان په تګ راتګ د فېرنګي سترګې وې. او له دی سره د افغانستان د خانانو ، سردارانو، او نورو امتیازلرونکو ځاني غرضونه لا له لېرې څرګند وو.

Downloaded from: ketabton.com

## د شاه زمان دریم ځل لاهورته تګ (۲۵م اکتوبر ۱۷۹۸)

شاه زمان په هرات کې و چې خبر ورغی چې په پنجاب کې سکهـ پورته شوی دی. ډیر ګړندی د بامیان په لار کابل ته ولاړلو او پر ۲۵م اکتوبر ۱۷۹۷ د پېښور په لار لاهور ته ورسېدلو. په جهلم کې سکهانو د لاری نیولو هڅه وکړه خو باچا سوکه تېر شولو. په لاهور کې یې د روغې جوړې لار واخیستله، او دغه کال یانی ۱۷۹۸ کښې ئې رنجیت سنګهـ د لاهور والي کړلو، چې ډیر باصلاحیته سړی و. شاه زمان بېرته کابل ته وخوځېدلو او په ۳۰ مه جنوری ۱۷۹۹ پېښور ته ورسېدلو . په جهلم کې د ډیر باران له کبله ترینه توپې پاتې شوې وې چې وروسته رنجیت سنګهـ او صاحب سنګهـ راویستلې او باچا پسې یې پېښور ته ورسولې.

فېرنګي ښکیلاک ګرانو دا وخت د هندوستان ډیره برخه تر خپل ښکېلاک کر سلطنت لاندې کړې وه. او د پاتې برخو په نیولو بوخت و. ډیرو دولتونو اخري سلګې وهلې.د دی وخت ګورنر جنرل لارډ ولزلي د سبسډیري نظام تاداو (بنیاد) کېښود لو، تر اوسه خپلواکو خو ناتوانو ریاستونو باندې یې زور واچولو چې دوئ دې د برتانیا څخه پرته له نورو ټولو دولتونو سره هر ډول اړیکي وشلوي. ایسټ اندیا کمپنی ته دی خپله ژغورنه (ساتنه) وسپاري او د دې په بدل به فرنګی دوي ته د مرستی لپاره پیسې ورکړي. د دی اصل مطلب دا وو چې د برتانیا باداري دی ومني، او د خپلې خپلواکۍ څخه دی لاس په سر شي. دا وخت د ډیرو وجوهاتو له کبله چې پورته یې ذکر شوې دی او که نه ) پر دی سیاست د تګ توان په فېرنګي کې راپیدا شوې و.

په هندوستان کې د سیاسي واک ورستی لوئ مرکز ډیلی هغه نیمه پخه او نیمه ژیړه زرغونه منیه وه چې د فېرنګي و لمن ته په تش باد راغورزېدونکی وه. او فېرنګي د دی پریکړي ګام ته نور خو جمتو و خو یو شاه زمان و چې کال په کال هندوستان ته تللو او دوئ یې دی ته نه پرېښودل ، دوي ویرېدل چې هسی نه شاه زمان د ډیلي په سبب پر دوئ داسی برید وکړي چې بیخي یې داسی تاواني کړي چې دا پخوانی ترلاسه کړې ګټې یې د لاسه وغورزوي.

## د افغانستان په باره کې د فیرنګي استعمار سیاست

دا پورتني شرایط و چې لارډ ولزلي په کلکته کې د انګریز ګورنور جنرل و. د ده د سبسډي نظام لاندې د هندوستان ډیر ملکونه ، مستعمره (نوابادي) شول . د هندوستان د نیم او بشپړه مستعمره جوړولو په لار کې تر ټولو لوېې خنډ افغانستان په باره کې استعمار ګرانو د افغانستان د کورني او د شاه وخوا د حالاتو په نظر کې نیولو سره دا لاندینی سیاسي کړنلاره ورو ورو غوره کړه.

(ا) د هندوستان د مستعمره کولو او د هغه تر ټینګولو تر وخته لومړی د افغانستان مخ بل لوری ته اړول.

(ب) د افغانستان د ناتوانه کولو او مخ اړولو د پاره د ایران له لوری د افغانستان ولایت هرات ته پرله پسې ویره او خطر جوړول.

Downloaded from: ketabton.com

(ج) په پنجاب کې د سکهـ سردارانو او امتیاز لرونکو طبقو په وسیله د پنجاب له جاګیري دولت (ریاست) سره لاس یو کول ، بیا د هغو ، له افغانستان سره په وهلو ټکولو اخته کول، چې یو خوا افغانستان نا توانه شي او بل لوری ته د رنجیت سنګهـ د مړینی وروسته سکهـ دولت دومره ناتوانه شوی وي چې سوکه د فیرنګي لمن ته ولویږي.

(د) خو تر ټولو غټه او بنیادي خبره دا چې فېرنګی د خپلو پخوانیو استعماري تجربو په نظر کې نیولو سره دا کړنلاره غوره کړه چې د افغان اولس او د دوي د قبایلي او مذهبي مشرانو ، او نورو امتیاز لرونکو د ګټو تر مابین تضاد ، داسی د ځان په ګټه په کار راولي چې د وخت د زمامدارانو ګټې ، له انګریزي استعمار سره وتړي. او د دوي نس پله ګډ شي. او د فیرنګي په ډول ډول مرستو برسیره یو خو دوي ښکاره په مخه، او فیرنګی تر شا افغانستان ته ننوځي او بل د دوي په ښکاره او پټه لاس وهنه د افغانستان خلک ، د قبایلو، ملیتونو، او مذهبونو په شکل پرله پسې په داسی کورني جنګ او ورور وژنه اخته کړي، چې خو د دی انتشار او بد امنئ په سبب ، افغان ټولنه له خپل اقتصادي ، سیاسي او ټولنیز مخ تګ څخه واوړي ، او بل هم د دی اسبابو په تنیجه کې ، افغانستان دومره ناتوانه شي، چې د فېرنګي استعماري یرغلونو ته د ټینګېدلو او د هغوي د مخ نیوي هیڅ وس ورسره پاتې نه شي. او بیا دا چې افغان اولس، د دی انتشار او بد امنئ جوړونکی پېژ لاس د امن لاس وبولي. او د انګریز استعمار نیولو ته چمتو شي.

دا خبره چې انګریز د ځان لپاره دا ډول واضحه سیاسي کړنلاره وټاکله ، به د ده له هغو ګامونو څخه ښه څرګنده شي، کوم چې ، له دی وروستو په مخ واخیستل شول. هر څه چې وو فېرنګي په دی لار ډېر ګړندي او ټینګ ګامونه واخیستل.

دا ښکاره خبره ده چې د دی تګلارې د عملي کېدلو په وخت ، او بیا په تېره د افغانستان د نیولو وروسته ، افغان ټولنئ ، خپل طبعي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز پرمخ تګ ، د انګریزي سامراجي استعمار په زهرجن سیوري کې پیل کړلو.

## د مهدي علی خان او جان ملکم پلاوې (مشنونه) ۱۷۹۹

---

انګریزانو په ۱۷۹۹ کې د ممبی یو غټ سوداګر مهدي علی خان چې د ایران د باچا په دربار کې یې ډېره اغېزه (اثر) لرله ، د ایران باچا ته د دی لپاره واستولو چې دی دا باچا پر افغانستان د یرغل لپاره چمتو کړي.. په مهدي علي خان کې د سر آغاخان او د ممبی او کراچئ د دلالی سرمایه دارې طبقې زنړي لیدل کیږي. انګریزي ښکیلاک ګران د مهدي علي خان د پلاوي (مشن) په باره کې ډېر روڼ (خوش بینه) دي. . ښاغلی جی- پې ټیټ په خپل کتاب ،، د افغانستان سلطنت ،، پر مخ ۱۱۰ او ۱۱۱ لیکي، افغان ویری ټول هندوستان په ویره کې اچولی و (اتفلانده کړی و) د باچا بریدونو کال په کال ویره خپروله، چې انګریز یې زړه شیني کړی و. برتانوي واکدارانو د سدوزئ د باچا د مخ اړولو، د هندوستان په باره کې د هغه د ارادو د مخ نیوي لپاره ، د ایران په دربار کې اغیزناک (موثر) د بمبی یو غټ سوداګر مهدی علي خان ایران ته واستاوه.

چې باچا په افغانانو د برید لپاره چمتو کړي، د دوي لپاره هرات یو ډېر نارغرلی هدف و. او مامود د دی په باره کې ډېرې هوسایني جوړې کړې وې. د هرات د ناسو د نوین ساتلو په

Downloaded from: ketabton.com

د مهدی علی خان د پلا (مشن) د بري خبر لا کلکتی ته نه و رسېدلی چې د کال ۱۷۹۹ په وروستيو شپو کې ، تورن (کپيټن) جان مالکم بيا پر پلا د تهران دربار ته واستول شو. جی-پي -ټيټ په خپل پورتني ذکر شوي کتاب کې پر مخ ۱۱۱ ليکي ،، د کال په کال د افغان برید له ویری د هندوستان د ايستلو لپاره ، له باچا سره بندوبست کول، که چېری فرانسيسي ملت د ايران په باره کې په زړه کې څه لري، د هغو مخالفت کول، او د ايران سره د تجارت دوواړي پېل کول، او و خپل پخواني ځائ ته رسول درې هدفونه (موخې) دې پلا تر مخ درلودل،، لېفټېنټ جنرل ميکمن په خپل کتاب ،، افغانستان،، کې په مخ ۸۱ د جان مېلکم د پلا په باره کې ليکي ،، چې د دی پلا اصل هدف د شاه زمان د کال په کال برید ، چې هر وخت د کمپنی د ډير خرڅ سبب ګرځيدلو ، د ويری څخه د هندستان د ايستلو لپاره ، د هغه مخ د افغانستان و لويديځو ولايتونو ته اړول و.،،

فرنګي دا وخت په افغانستان د هرات د لوري د ويری داسی عمل پېل کړلو چې وروستو يې بيا د هغه د جلا نيولو په سياست لاس پوری کړلو. کوم شوکمار ته چې يې په هرات د يرغل لپاره وبيلي و، وروستو به يې له هغه سره داسی ناري سوري جوړې کړې ، چې يو خوا به يې په افغانستان کې د لاس وهنی پلمه جوړه شوه او بل به يې د هرات له افغانستان څخه د جلا او ځان ترلاس لاندی شاتلو عمل وکړلو.په دی باره کې مالوم انګريز ښکېلاکګر (استعمارچي) ميکمن په دی استعماري سياست ډير پوهه و، د خپل کتاب ،، افغانستان،، په ۷۹ مخ ليکي ، دا په هرات د برید ويره وه ، چې وروستو يې ، د انګريز او افغان د پولی په سياست کې افغان چارې يو اهمه برخه وګرزوله. نو کله کله دا خيال ، چې مونږ د نولسمې پېړئ په لومړي سر کې هغه بو ((فرضي خطره) ته باد ورکاوه چې وروستو يې مونږه پخپله بې ارامه کړو ، يوه خوندوره ټوقه شي ،،

## د جان مالکم او فتح علی شاه لوظنامه (۱۸۰۰)

انګرېز استعمارګر جان مالکم له باچا فتح علی شاه سره لوظنامه لاس ليک کړله. د دی په هکله يو بل ښکېلاکګر ډبليو- کی فريزر ټيټلر په خپل کتاب ،، افغانستان،، کې پر مخ ۷۸ داسی ليکي ، ،، چې تر څو پورې چې په افغانانو پورې اړه لري، نو شاه دا ذمه واري واخيستله ، چې که هر وخت دوي په هندوستان د برید هڅه وکړي نو د دوي وطن به وران او ويجاړ کړي، او د دی پورته ذکر شوي ملت د تباه کولو او ذليل کولو لپاره به هر ډول وس وکړي . برتانوي حکومت له خپلې خوا لوظ وکړلو چې ايراني پوځ ته به جنګي سامان ورکوي ،، انګرېز استعمار ګرانو چې په (۱۷۹۹ ـ ۱۸۰۰ ) کې د افغان ملت د ذليل کولو ، بربادولو، د دوي د هېواد د تباه کولو او ويجاړولو و هدف ته د رسېدلو لپاره ، د افغانستان د شاوخوا او بيا په تېره و کورني امتياز لرونکو ته کومه وظيفه ورپه غاړه کړه، له دی وروستو دوي دا په ډول ډول طريقو و سر ته رسوله.

د افغانستان سياسي او پوځي ماتی ، ورانی، سپکاوی ، پر ساه پاتی والی ، او د هيواد ښکيلاک او نيم ښکيل کېدل د انګريزي ښکېلاک ګرانو ، د کورنيو او بهرنيو امتياز لرونکو وطن

Downloaded from: ketabton.com

د دهرات د دی ناسور په سبب وه ، چې د کال ۱۷۹۸ په پائ کې ، د رنجيت سنگهـ د لاهور د والي جوړولو وروسته ، شاه زمان گرندی کابل ته ستون شولو ، او په ۳۰مه جنوری ۱۷۹۹ پېښور ته ورسېدلو، بيا کابل او له هغه ځايه کندهار ته ولاړلو.

مامود چې ، د جنوری ۱۷۹۸ او د جنوری ۱۷۹۹ په شپو کې په هرات کوم څلور بريدونه کړي وو، هغه ساه زمان له فتح علی شاه څخه انگېرل (گڼل) . په دی خو دی کندهار ته ولاړ . په ۱۸۰۰ کې ، فتح علی شاه، د مهدي علی خان ممبی والاو مالکم د پالوو په نتيجه کې د هرات د ناسور د نوين ساتلو ، د سياست د عملي کيدلو لپاره ، له مامود سره افغانستان ته د ايراني خراسان ولايت د حالاتو په پلمه رانيزدی شوی و.

شاه زمان ، فتح علی شاه ته خپل استازی توره باز خان واستولو چې تهران ته يې وگرځوي، فتح علی شاه په دی شرط دی ته تيار شولو ، چې مامود او حاجي پيروز به افغانستان ته ځي او خپل ځائ به بېرته ورکول کېږي. د دی سفراتي عملياتو وروسته فتح علی شاه تهران ته ولاړلو او مامود يې تورشيز ته پريښودلو چې هلته يې د ده د اوسېدلو بندوبست کړی و. په اصل کې فتح علی شاه او مامود پر انگريز د شاه زمان زور کمولو ، او د دهغه د ځنډولو مرام يې درلودلو کوم چې يې ترسره کړلو.

## د پاينده خان او نورو سردارانو وژل (۱۸۰۰)

---

دلته فتح علی شاه او مامود د افغانستان د سپکولو تدبېرونه نيول ، هلته پخپله په افغانستان کې داسې پېښه وشوه ، چې د امتياز لرونکو په لاس ، په وطن کې داسی اور ولگيدلو، چې يو خوا يې د شاه زمان مخه له فېرنگی څخه واړوله او بل خوا يې افغانستان د خپل اقتصادي، سياسي او ټولنيز پرمختگ او بدلون څخه راواړولو. او بيا د تاريخ په دی دور کې ، چې د اروپا پانگوالي (سرمايه داري) له ښکته حخه پورته پړاو ته په اوښتلو کې وه، نو په افغانستان کې په دی کورني حالاتو کې ، انگرېز استعمار لاس واچولو. او دا کورنی جنگ نور وغزيدلو، قومونه (قوميتونه) ، مذهبونه ، او قبايل له يو بل سره په جنگ اخته کړلي شوي. د پېداواري قوتونو د مختگ لاره ونيول شوله، د اولس استحصال څو کرته ډېر شولو، خانان، پيران او ملايان يعني واک لرونکي او مراعات لرونکې طبقې او سماجي ډلي له اولس او وطن څخه نوري لېری شولې. او دا په منډئ کښې وولاړ د وطن په ضد د انگرېز اسونه وو.

او انگريز ورباندی سپاره د وطن د نيولو په موخه ښکته پورته زغليدل. په دی کې لږ ډېر هر اغيزناک سړی د وطن په خلاف څه له پوهې خاوندان او څه په ناپوهه انگريزانو په خپل کار راوستل. او که يو چا چېرته د وطن د ژغورنی لپاره يو څه مېړانه وکړه، نو بيا د فېرنگي په مشری کې د وطن دښمنو ډلو داسی حالات جوړ کړل ، چې هغه وطنپال به يې يا د وطن پالونکې ډلې څخه راوگرځاوه او د وطن خرڅونکې ډلې ملگری به يې کړلو او يا به يې په ډيره لاچاری خپل سر له لاسه ورکړلو،د هيواد د قومونو (قوميتونو) مذهبونو ، او قبايلو تر

Downloaded from: ketabton.com

د دی کورني جنګ سر داسی کېښودلی شولو چې په ۱۸۰۰م کال کې ، چې شاه زمان په کندهار کې و، نو د ده د وزیر وفادار خان د استبدادي او ضدي طریقو په سبب ، ډېرو سردارانو ، چې په سر کې یې د جمال خان زوئ پاینده خان بارکزئ، اسلام خان پوپلزئ، حکمت خان سرکانی، مامد ازیم خان الکوزئ، میر ارسلاخان جوان شهر قزلباش، او جعفر خان جوان شهر وو، د وزیر او باچا خلاف دسیسه جوړه کړله، چې وزیر وفادار خان به ووژني او باچا به ژوندی ونیسي، وزیر ته دا دسیسه مالومه شوه او تر څه کولو یې د مخه دا سرداران ونیول او سره د پاینده خان بارکزئ یې مړه کړل، په کندهار کې تلاشي پېل شوه خو د پاینده خان زوئ فتح خان ، چې وروسته د وزیر فتح خان په نامه وپېژندل شولو، سره د ورونو او خپلوانو وړومبی د هیلمند په غاړه خپل کلي نادعلی ته او بیا له هغه ځایه په ایران کې د مخکې نه پروت مامود ته وتښتېدلو. اوس نو چې په کور کې اور بل شولو، نو دا قوت د مامود او فتح علی شاه سره یو ځائ شولو، څوک چې د انګریز په ښکېلاکګره لاره لا پخوا روان وو.

په دی کیسه کې یوه د یادونی وړه خبره دا ده، چې دی سردارانو د وزیر د وژلو او د باچا د نیولو لپاره خبرې د یو هندوستاني پیر غلام مامد په خانقاه کې وکړې، عجبه نه ده چې که دا هندوستانی پیر ، پخپله د راتلونکي وخت لارنس یا په خپله په افغانستان کې د نورو وطن خرڅونکو /پلورونکو پیرانو یوه لومړئ تجربه وه. که څه هم د دی په باره کې هیڅ هم څه تاریخي شهادت نشته . له دی وروسته، دا پیر غلام مامد وتښتېدلو او په ډهاډر کې ونیول شولو، او سر یې پرېکړل شولو ، نور په ډهاډر کې ښخ شولو او سر یې په کندهار کې د هراتي دروازی د باندی د پاریاب د نهر سره ښخ شولو.

اوس نو د هرات د ټپ د نوین کولو لپاره فتح خان هم مامود ته لاس ورکړل، او فېرنګی او فتح علی شاه خو لا تر شاه ورته ولاړ وو.

## د شاه زمان ماته او ړندېدل (۱۸۰۱)

---

په کال ۱۸۰۱ کې ، شاه زمان د فېرنګي د مخنیوي لپاره پېښاور ته ولاړو. دا یې چې واورېدل نو فتح خان مامود ته په کندهار د برید کولو وویل. او دواړه کندهار ته وخوځېدل، د فتح خان ټول قوت له مامود سره یو ځائ شولو . شاه نواز بارکزئ چې په کندهار کې و، مامود ته د واورو د ویلي کېدلو څخه مخکې د برید کولو وویل، چې له پېښاور څخه کندهار ته کومک ونه رسیږي. د شاه زمان والي

Downloaded from: ketabton.com

شاه زمان د پنجاب پلا پرېښودله ، او بېرته يې د کندهار مخه وکړله. د مقر او قلات غلزئ (زابل) په مينځ کي د مامود سره نښته وشوله خو د احمد خان نورزي د جلا کېدلو له کبله يې ماته وخوړه، احمد خان پخپله هم د وفادار خان وزير ، د استبداد او زياتوب له وجې د شاه زمان څخه لاس واخيستلو.

شاه زمان په شا کابل ته ولاړ ، خو هلته يې د ارسلا خان قزلباش د وژلو په سبب مخالفت ډير و، نو جلال اباد ته ولاړ، د ده کشر ورور شجاع د پېښاور والي و، کمک ته يې راوغوښتلو، مامود کابل ونيولو.

وروروستو په اشپان کې ، چې د جلال اباد څخه شپږ ويشت ميله لېرى دى ، شاه زمان له مامود څخه ماته وخوړه، شاه زمان له خپل لښکر څخه جلا شولو او د عاشق په نوم د يو سردار په کور کې د وفادار خان سره ننواتى شولو . شاه زمان د دى کوربه سره ډير ښه کړي وو. عاشق دى بندي کړلو او مامود ته يې پټ حال واستاوه. شجاع عاشق ته د دوي د ايله کېدلو لپاره سړي ولېږل خو هغه دوي ايله نه کړل. له شاه زمان سره دا وخت مشهور غمۍ کوه نور او بل لعل پکهراج هم وو. کوه نور يې په هغه کوټه کې چې دى پکې و په يو چاود کې پټ کړلو او پکهراج يې کاريز ته وغورزولو.

له دى وروستو مامود ، د فتح خان يو ورور د مامود د نيولو لپاره واستاوه . چې شاه زمان يې مامود ته راوستلو، نو هغه دفېرنګي د ،، افغان ملت د سپکولو او د هغو د وطن د ويجاړولو،، په سياست لومړئ خو غټ ګام دا واخيست چې په ټول هندوستان، ايران او افغانستان کې د فېرنګي د يرغل مخه نيونکو د هغه وخت مخکښه او مشر شاه زمان چې دا وخت ايله د ٣٢ کلونو ځوان و، په سترګو کې يي ورته د اور سور سلايي ووهل او ړوند يې کړلو. په دى انسانيت سوز عمل يې يو خو پخپله په شاه زمان نړئ توره تياره کړله او بل يې د فېرنګي د په شا تګ ويره د تل لپاره پاى ته ورسوله. او په هندوستان، ايران او افغانستان کې يې د منګلو د ښخولو لاره ور ايله کړله.
شاه زمان په خپله په داسى ذلت امېز حالت کې واچول شولو چې هغه شاه زمان چې فېرنګى به د ده د ويرى رېږدلو وروستو ډير وخت په لودهيانه کې شاه زمان د فېرنګي ننواتى و، او دده ورور شجاع فېرنګى له ځان سره افغانستان ته راوستلو. وروستو شاه زمان ډير زوړ په لودهيانه کې مړ شولو.

Downloaded from: ketabton.com

افغانستان له کال ۱۸۰۲ څخه تر ۱۸۳۸
شاه مامود د افغانستان په لومړي ځل باچا ۱۸۰۱ تر ۱۸۰۳

---

په ۲۵م جولائ ۱۸۰۱ ، مامود ، د شاه مامود په نامه د افغانستان باچا شولو، د وطن او اولس خلاف د فېرنګي او بیا د فتح علی شاه په لاس کې د وطن خرڅوونکو/پلورونکو د محاذ بنسټ (تاداو) یې هغه وخت ابښی و چې لا باچا نه و جوړ شوی ، فتح خان یې وزیر شولو.
د شاه زمان په مور ورور شجاع ، یو ځل بیا په اشپان کې په ۲۰ ستمبر ۱۸۰۱ کې له شاه مامود سره جګړه وکړه خو مات شولو او پېښاور هم د شاه مامود لاس ته ورغلو. شجاع د ګومل په دره ، د غوالېري په لار د سلېمان غرونو ته ولاړ.

د انګریز ډلي نیول

---

انګرېز چې اوس یې له افغانستانه هېڅ ویره نه کېدله ، نو د دی جوګه شو، چې هندوستان ټول لاندی کړي. په ۱۸۰۳م کې د ډیلي د باندی په پټ پاړګنج نومې ځائ کې لارډ لیک مرهټه پوځ ته چې فرانسویانو یې مشري کوله ماته ورکړه، او په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره فېرنګي ډیلی هم ونیولو، لس کاله د شاه زمان برید ته چمتو فېرنګي په یو ګام کې ډیلی لاندی کړلو او په پنجاب کې د ستلج رود غاړی ته راورسېدلو. شاه عالم ثاني د فېرنګي وظیفه خور تش د نوم باچا و. اصلي واک د فېرنګي و.

حاجی فېروز او هرات
شاه مامود باچا شولو نو یې حاجی فېروز له ایرانه راوغوښتلو او د هرات والي یې کړلو. په دغه ورځو کې اودل رحمان هوتک او شهابودین د مامود په ضد پورته شول خو وروستو مات شول شجاع ږوب او بوری ته ولاړلو او بیا دغه اودل رحمان او شهابودین ورسره ملګري شول. وروسته کویټی ته ولاړ او ژمی یې هلته تېر کړلو. د کندهار د نیولو تکل یې وکړلو خو ناکام شولو او بیا بېرته بوری ته ولاړ. څه ګانه یې خرڅه کړله چې لښکر جوړ کړي، دلته قېصر د شاه زمان زوی او مدد خان هم ورته راغلل، بیا له بوری څخه زرمت ته ولاړل.

په ۴م او ۵م جون په کابل کې د یو هلک په سر د سني او شیعه جګړه پېښه شوله ، سني فرقی شجاع راوغښتلو چې دزرمت څخه ورغلو، او یو پلاوی یې په ۱۳م جولاي کابل ته راوستلو ، وزیر فتح خان په هزاراجاتو کې و، شاه مامود په بالاحصار کې قلابند شولو بیا یې وسله کېښودله او بندي شولو، وروستو د شاه

Downloaded from: ketabton.com

شاه مامود بندي شولو نو يې لومړی د سترګو د ايستلو حکم وشولو خو د شاه زمان فراخدلی شجاع دی خبری ته مجبور کړلو چې سترګې يې ترينه ونه ويستلې بس بندي و. د شاه زمان غمی بېرته ومونډل شولو ، عاشق ووژل شولو.

شاه مامود له شاه زمان څخه بيخي يو بدل سړی و، له شهوت، غصې او حېواني او نفساني خواهشاتو څخه جوړ و. د دی لپاره يې ژوند تېر کړلو او وطن يې ترينه ځار کړلو.

شاه شجاع (۱۸۰۳ تر ۱۸۰۹)

---

شجاع اوس د شاه شجاع په نامه د افغانستان باچا شو، فتح خان يې وبخښلو، خو هغه بېرته وتښتيدلو، د شاه مامود زوي کامران کندهار ونيولو خو بېرته ترينه واخېستل شولو، وزير فتح خان بېرته شجاع ته راغلو ، خو بيا د دويم ځل لپاره وتښتېدلو، او د شهزاده کامران سره يو ځائ شولو، په دی شپو کې مامود د کابل له بالاحصار څخه د ښار د امام په مرسته وتښتېدلو، او فتح خان او کامران بيا په کندهار بريد وکړلو، چې شجاع ورغلو نو فتح خان او مامود فراه ته ولاړل.

په ۸-۱۸۰۷ کې ايراني لښکر يو ځل بيا د شپږم ځل لپاره هرات قلابند کړلو، خو ځلويښت ورځې وروستو د بډو اخيستلو وروسته بېرته ولاړل. دا وار چې شجاع کندهار ته ولاړ نو پر مخ سندهـ ته رهي شولو، او د ډيره جاتو (ډېره غازيخان او ډېره اسماعيل خان) په لار پېښور ته تللو چې په بهاولپور کې ورته مالومه شوله چې ماونټ ستيورټ الفنسټن ، انګرېز استاځی ، افغانستان ته د باچا لېدلو ته راروان شوی دی. شاه شجاع په لسمه جنوری ۱۸۰۹م او الفنسټن په ۲۵مه فروری ۱۸۰۹ م د افغانستان د ژمي پلازمينی پېښور ته ورسېدل..

د فرنګي استاځي

---

په قطبي هندوستان کښې ، ډيلی فرنګي نيولی و، لا په ۱۷۹۹ کښې يې سلطان ټيپو وژلی او مېسور يې ښکېل کړی و. په افغانستان کې فتح خان او مامود دايراني فتح علی شاه او انګرېز استعمار په خوښه له مرکزي حکومت سره لاس

Downloaded from: ketabton.com

فېرنګي په هندوستان د فرانس او روس د برید بَوّ (فرضي ویره) راپورته کړه. او په دی پلمه یې په اصل کې په پنجاب ، افغانستان، بلوچستان، او ایران کې د غټو استعماري ګامونو اخیستلو لپاره د څه ځائ جوړولو لپاره لومړی سفارتي عملیات پیل کړل.

دا وخت لارډ منټو په هندوستان کې ګورنر جنرل و، په ښکاره یې د نیپولین د مخنیوي د پاره، د اتحاد د جوړولو د امکاناتو د کتلو، د پاره افغانستان ته الفنسټن ، پنجاب سکهـ دربار ته مټکاف ، ایران ته لومړی د افغانستان د تذلیل خوښونکی او د فتح علی شاه دوست جان ملکم واستولو، دغه وه چې الفنسټن په پېښور کې، افغان باچا ته په فروری ۱۸۰۹م کال کې حاضر شولو. دی استاځو په اصل کې په پنجاب، افغانستان، او ایران کې ځار او جاسوسي کوله، ټوله ځمکه یې وچه کړله، الفنسټن د افغانستان په هکله د مالوماتو نه ډک ،، د کابل سلطنت ،، په نامه کتاب ولیکلو، دی کتاب د علمي وړتیا برسېره ، فېرنګي ته د استعماري سیاسي لارو او طریقو د ټاکلو د پاره ډېر کار ورکړلو. او فېرنګي ته یې افغانستان ته د ننوتلو د پاره ، د جغرافیایي لارو سره سره سیاسي لارې ګودر په ګودر څرګندې کړې، د هغه وخت سره سم یې ښه سیاسي جاج واخیستلوـ د ذکر وړ خبره دا ده چې ، په دی مالوماتو راغونډولو کې د فېرنګي الفنسټن او بیا وروسته هر وخت د فېرنګي استعمار ، د افغانستان ملایانو، او پیرانوډېره مرسته وکړه. دوي پاک کنل کېدل، په درنه سترګه ورته کتل کېدل، هر خدمت یې مفت او وړیا کېدلو، هسې هم د یو څو ښارونو پرته د مېلمنو لپاره ډودی په ګرد افغانستان کې وړیا وه. د دوي هېڅ هم ویره نه وه، په ځانونو یې د اسلام د مبلغ کمبله اچولی وه. هیچا ورته هیڅ ډول د جاسوسی ، تېر ایستلو او غولولو ګوته نه شوه نیولی، او د وطن د خواري کښانو په ډودی د دوي لیک او لوست هم زده و.
د ځار او جاسوسی سربېره ، دی درېواړو استاځو دا هم وکړل چې له فېرنګي استعمار ګرانو سره د افغانستان باچا د دوستی، راجه رنجیت سنګهـ د باهمي دوستی او بله د ایران ،، باچا د باچاهانو،، هم د دوستی لوظنامې وکړلې، د رنجیت سنګهـ سره د دوستی لوظنامه، لومړی د افغانستان او بیا وروسته پخپله د پنجاب د نیولو یو ښه تاداو/بنیاد جوړ شولو.

شاه شجاع وروسته د افغانستان د خپلواکی، ملي حاکمیت او خاورې په ضد یوه اهمه وسله وګرځېدله. تر دی چې له افغانستان څخه د هندوستان په ډول د بشپړه مستعمری په جوړولو کې یې هم له شاه شجاع څخه کار واخیستلو. خو د افغانستان په خپلواکی مین اولس د فېرنګي د دی وسلی د ماتولو سره سره فېرنګي ته هم هغه ګوزار ورکړلو چې مازغه یې ورله وچورلول.

Downloaded from: ketabton.com

فېرنګي ښکېلاک ګر لیفټننټ جنرل مېکمن ته د دغو لوظنامو اهمیت ښه څرګند و، دی د خپل کتاب ،، افغانستان،، په مخ ۸۵ لیکي، په دی لوظنامو کې ډېر څه نه وو، خو مونږ د افغانستان او ایران دواړو په سالمیت ډېر زړه شیني وو، دی لوظنامو مونږ ته د لاس وهنو ښکاره حق راکړلو .

لنډه دا چې فېرنګي د دی لوظنامو وروسته ، د دوستۍ په پلمه خو په اصل کې د ټوپک په زور ، په پنجاب، افغانستان، بلوچستان، او ایران کې د لاس وهلو د حق دعوېداران شول. او له دی وروسته یې ، هر ډول ډېره مستقیمه سیاسي او پوځي لاس وهنه پېل کړله.

دلته د فېرنګي سره لوظنامې وشوې ، هلته د رنجیت سنګهـ سره د دیرش کلنی جګړې بدې ورځې پېل شولې. دا په اصل کې د استعمار ګر دوست فېرنګي د دوستۍ مېوه وه، چې د پخوانې غوره کړې سیاست سره سم یې دی جنګونو ته ببوزی وهلو. او د پایځ ګټه یې هم د دغه فېرنګي دوست ځولۍ ته وغورځېدله. فېرنګي هر وخت د دا ډول حالاتو جوړولو په نتیجه کې دا ګټې ټولې کړي دي. . د دغه لوظنامو څخه وروړسته میکمن په خپل کتاب افغانستان کې په ۸۶ م مخ لیکي،،، د راتلونکو دیرشو کلونو تاریخ، د افغان او سکهـ د یو د بل خلاف پرله پسي او تاواني جنګونو، او نابېره چپاوونو، تاریخ دی. چې تجارت ته د ودې ورکونکي او امن خوښوونکي انګریز د ناهیلو کېدلو لوئ لامل و. او دغه خبرو په پایځ کې د واضح سیاست اختیار کولو ضرورت پېدا کړلو ،،

دلته دواضح سیاست اختیار کولو ،، څخه د میکمن ، د افغان او سکهـ د دېرشو کلونو د وینه تویونکو نښتو وروسته په اکتوبر ۱۸۳۸ م کې په افغانستان د فېرنګي د لومړي لویی پوځي یرغل پالېسي (تګلاره) مراد ده.

د شاه شجاع ماته (۱۸۰۹)

---

الفنسټن لا په پېښاور کې و، چې د دوست د پخوانیو عملیاتو نتیجه بیا راوتله، پېښاور ته خبر راغلو چې د قبایلي دښمنیو سره په کار اخېستلو مامود کابل ونیولو، انګریز په ښکاره خو دا ږغ وکړلو چې برتانوي حکومت په کورني جنګ کې د مداخلت تګلاره نه لري. خو دا یواځې خبرې وې، په اصل کې دغه جګړې ته لمن فېرنګي وهله.، په سر کې په ښکاره لاس نه وهل او په پټه ښه پوره لاس وهل په نړئ د انګریزي استعمار یوه له ازمیښته وتلی تجربه وه. چې

Downloaded from: ketabton.com

دلته لارډ منټو ، الفنسټن بېرته وغوښتلو دی په ۱۴م جون ۱۸۰۹ م کې بېرته هندوستان ته رهی شولو، د شاه شجاع کهول او خزانه له دوي سره راولپنډی ته واستول شول. او هغه شاه زمان چې فېرنګی د ده له ویری په ارام نشو کښېناستلی اوس د یو لاچار ړوند په حېث د فېرنګي له استاځي سره راولپنډی ته ولاړلو.
د خپل سیاست په دی بریالیتوب به، چې ړوند پخوانی افغان باچا شاه زمان، د بل باچا شاه شجاع له کهول او خزانی سره د دوي سره د دوي سیوري ته رهی شولو او هم په افغانستان د یو اوږد جاګیردارانه کورنی جګړی لمبې بلې وې، او د فېرنګي هند ته په پرېوتلو و، هروهرو به انګریزي ښکېلاکګرانو په خپل مینځ کې مجرمانه موسکا کړي وي.

د نیملي جهګړه (۱۸۰۹)

---

لنډه دا چې مامود له کابله او شجاع له پېښوره را په مخه شول، په دواړو لښکرو کې د سردارانو دسیسې روانې وې، د مامود په لښکر کې علیم خان نورزئ ، د وزیر فتح خان په وینا ووژل شولو، هلته د شجاع د سامان مامور وزیر فتح خان رانیولی و، مدد خان ساکزي هم له فتح خان سره لاس یو کړی و، کوم وخت چې د شجاع سامان جلال اباد ته ورسېدلو ، چې هلته به کیمپ لګېدلو ، نو د سامان مامور هلته کېمپ ونه لګولو او دیرش میله پر مخ ولاړلو، د پېښور او کابل تر دا منځ په نیمله کلي کې یې وطاق ولګولو، شجاع چې جلال اباد ته راغی نو کېمپ نه و، شک یې وکړلو خو په بیړه نیملي ته ولاړلو . هلته وزیر فتح خان په لږ خو دمه لښکر د شاه شجاع په ستړي او د اګست د ګرمی او اوږد مزل وهلي لښکر برید وکړلو، شجاع کلکه ماته وخوړه، توپې ، مالونه او څه خزانه یې له لاسه ووتله ، اکرم خان وزیر یې هم ووژل شولو . شجاع ترپ وهل (وتښتېدلو) او د سهېل لوري ته ولاړ.
څو میاشتې وروستو یې کندهار ونیولو خو بېرته په مخه شولو او د ګومل په لار پنجاب ته ښکته شولو. په پنجاب کې د رنجیت سنګهـ سره د لېدلو ورسته راولپنډی ته ولاړ. شاه زمان او کهول یې هلته وو، اوس نو د شاه زمان سره ، دا افغان باچا هم ، د فېرنګي په چالونو، د مامود، فتح خان او فتح علی شاه په پره نیولو د انګریز لومې ته رانېژدی کړل شولو، یو کال یې په راولپنډی کې تېر کړلو.

شاه مامود د دویم ځل لپاره د افغانستان باچا ( ۱۸۰۹ تر ۱۸۱۸ )

Downloaded from: ketabton.com

د شجاع د زغلولو وروسته ، شاه مامود د دويم ځل لپاره په ۱۸۰۹ م کښې د افغانستان باچا شولو، او فتح خان يې وزير شولو. دا وخت د جاګيردارانو د دی کورني جنګونو په لامل افغانستان ډير مانده شوې و او نور هم په دغه لور روان شو.

هلته د پيرنګي د پخوانی تګلارې سره سم اوس په ۱۸۰۹م کې چارلس متکاف له رنجيت سنګهـ سره د دوستی لوظنامه هم وکړله. او انګريز د خپل سياست د آله کار په توګه کار ځيني اخيستلو لپاره د رنجيت سنګهـ په شاه ټپول هم پېل کړل. رنجيت سنګهـ د افغانستان په کنډم کولو بوخت شولو.

شاه شجاع چې په ۱۸۰۹ م کې مات شولو نو پنجاب ته سوړ شولو، په دوه کاله کې يې دوه ځله پيښور ونيولو . يو وار د وزير فتح خان ورور وشړلو او دويم وار د اټک هغه ګورنر چې ده ګورنر کړی و، بندي يې کړلو او د کشمير والي ته يې په لاس ورکړلو چې هلته يو کال بندي شولو.

په ۱۸۱۱م کې ، چې شاه شجاع له ملتان څخه کومک وغوښتلو نو شاه مامود پنجاب ته ولاړلو او له رنجيت سنګهـ سره يې وليدل. ، هم په دغه کال شاه زمان د شجاع له کورنی سره ، په لاهور کې، د رنجيت سنګهـ ننواتی شولو.

د کشمير والي اتامامد خان ، چې شجاع ورسره بندي و، هم پورته شولو، نو وزير فتح خان د کشمير مخه وکړله، په لاره کې يې د رنجيت سنګهـ سره وليدل، او دا پرېکړه يې وکړه چې افغان لښکر چې د بهمبر په لاره کشمير ته ځي ، او بيا چې برې وموميي نو به د مال غنيمت دريمه برخه رنجيت سنګهـ ته ورکوي، فتح خان په فروری ۱۸۱۳م کال کې د کشمير والي ته ماته ورکړه، شاه شجاع يې د رنجيت سنګهـ استاځو ته په لاس ورکړلو چې هغوي لاهور ته واستولو.

د رنجيت سنګهـ د افغانستان څخه وړومبی نيوکه ـــ د اټک قلا نيول (۱۸۱۳)

ـــــاوس نو رنجيت سنګهـ د افغانستان په نيولو او کنډم کولو لاس پورې کړل.. د اټک هغه والي چې شاه شجاع يې نيولی و او جهانداد نومېدلو په پټه د رنجيت سنګهـ سره لاس و. او د اباسيند په غاړه ، د ډير جنګي اهميت ځائ ، د اټک قلا يې په دسيسه رنجيت سنګهـ ته ورکړله، دا لومړی ګوزار و چې د افغانستان د وطن پلورونکو سره په ګډه رنجيت سنګهـ په افغانستان وکړلو، د تيري سربېره، د اټک افغان قلا، په افغانستان کې د مخ توپ لپاره د ستراتيژيک اهميت توپنی وه.

Downloaded from: ketabton.com

په چچ هزاره کې سکهـ او افغان جهګړه( ۱۳ جولائ ۱۸۱۳ )

---

وزير فتح خان چې د افغان خاورې د نيولو واورېدل ، نو يې د اټک قلا ته نېژدی ، د اباسيند په کينه غاړه په چچ هزاره کې په ۱۳م جولائ ۱۸۱۳ د رنجيت سنګهـ له وزير محکم چند سره جګړه وکړه . د فتح خان کشر ورور دوست مامد له ده سره و. دوست مامد د سکهـ توپخانه ونيوله، خو سکهانو دا ټګي وکړه چې په توده جګړه کې يې دا ګنګوسه خپره کړه چې دوست مامد ماته وخوړله. وزير فتح خان چې دا سکروټ دروغ خبره واورېدله نو د پښتو د متل په څير خپل غوږ يې ونه کتلو ، خبره يې کره نه کړله او په شا لاړلو، او ګټلی ميدان يې وبايللو. فتح خان دا ماته په ۱۳م جولائ ۱۸۱۳ کې وخوړله. د رنجيت سنګهـ پښې نورې هم ټينګې شولې او بل وار ته غلی شولو.

رنجيت سنګهـ او شجاع ـــ شجاع او لودهيانه ۱۸۱۴ تر ۱۸۱۶
هلته په لاهور کې ، رنجيت سنګهـ ، له شجاع څخه کوه نور غمی په چل ول ځان ته کړلو.شاه زمان د شجاع له کورنی سره په دسمبر ۱۸۱۴م کې انګرېز ته لودهيانی ته وتښتېدلو، بيا شجاع په پټه ځان له رنجيت سنګهـ څخه ووېستلو. او د کشتواړ د راجه په مرسته يې په کشمير بريد وکړلو، خو دغه بريد شنډ شولو. د نورزو په زور ورسته دی هم په ۱۸۱۶م کې له خپلې کورنۍ او شاه زمان سره يو ځائ شولو، فېرنګي اوس د دوې وظيفه له ۱۸۰۰۰ روپو څخه ۵۰۰۰۰ روپې کړله. اوس دوه تښتېدلي افغان باچاهان د انګريز سرو ډوډو ته ناست وو او دريم ، چې دا وخت د افغانستان باچا و هم د فېرنګيانو سړی و.

رنجيت سنګهـ او کشمير

---

له دی وروسته رنجيت سنګهـ په کشمير بريد وکړلو، خو د فتح خان ورور عظيم خان ورله ماته ورکړه. او لاهور ته يې وزغلولو.

په هرات د فتح علی شاه يرغل او فتح خان ړندول او وژل ( ۱۸-۱۸۱۷ )

---

دا وخت په ۱۸۱۷ کې د هرات بَوّ د اووم ځل د پاره راپورته کړل شو ، چې د فېرنګي له لارې څخه يې ځينې نور ازغي لېری کړل. او افغانستان يې ټپي له خپلو پښو وغورزولو.

Downloaded from: ketabton.com

د افغانستان د سپکولو او ویجاړولو د پاره د فتح علی شاه زوی ، شهزاده حسن علی مرزا د ۱۸۱۷ په وروستیو شپو کې په هرات یرغل وکړلو ، وزیر فتح خان هرات ته ولاړلو، او په کافر قلا کې یې ایرانی لښکر مات کړلو. په جګړه کې په وزیر فتح خان یوه سړه شوی مرمی ولګېدله او دی یې له اسه وغورزولو، او له دی سره د لښکر د نورو سردارانو پښې له میدانه وختلی او افغان لښکر مات شولو، او دغه شان یو ځل بیا ګټلی میدان وبایلل شولو، فتح خان چې سترګې پرانیستلی نو لښکر یې تیت و پرک شوې و. هرات ته چې راغلو، نو شاه مامود او د هغه زوی کامران هم راغلي و، او په باغ زاغان کې دیره وو.

د ایران باچا فتح علی شاه چې مشهد ته روان و، په لاره ورته په کافر قلا کې د فتح خان د بریالیتوب او بیا ماتی خبر رسېدلی و. د بام سیمه چې د یو غلجي د واک لاندی وه فتح علی شاه ونیوله او هم په بام کې ورسره د شاه مامود استاځي ولیدل. مامود ته لا پخوا د هرات په باره کې د فرنګي او فتح علی شاه دسیسې مالومې وې. نو د وزیر فتح خان د لاسه د ایراني باچا د لښکر په ماته ، د ایراني باچا په غصه شامامود ښه پوهه و، نو ده دا استاځی د ایراني باچا د غصی د سړولو ، او د دی حال د ورکولو لپاره لېږلی و، چې وزیر فتح خان ، چې د وطن د ژغورنی د پاره، کومه لومړۍ مېړانه کړی ده، او د ایران باچا ته یې چې کومه ماته ورکړی ده، په هغې کې د شاه مامود لاس ورسره نه و.

فتح علی شاه ، په افغانستان د یرغل نه کولو لپاره مامود ته دوې روغې کېښودلې، یوه دا چې، چې وزیر فتح خان دی لاس تړلی د ایران باچا ته په لاس ورکړي، او که دا نه وي نو د فتح خان سترګې دی وباسي. دا وه د انګریز استعمار ګر د اله کار فتح علی شاه، او داسی د هر استعمارګر له خوا د وطن پالنی د جرم سزا ، د فتح علی شاه د حکم سره سم ، فتح خان ته سزا ورکولو به هرو مرو په افغان اولس کې د مامود د تخت په ضد کرکه راپاروله، نو داسی موقع پکار وه، چې د ملي دودونو سره سمه وي. او د اولس رایه د دوي په لور وي. چې نه سیخ سوزېدلی وی او نه کباب.

او دا موقعه یې داسی لاس ته کړه چې د وزیر فتح خان په حکم ، دوست مامد ، د مامود د ورور ، د هرات د والي حاجي فېروز د کور تلاشي کړې وه، د حاجي فېروز د نږور رقیه بېګم چې د مامود لور او د قاسم ماندینه وه، د هغې تلاشي هم وشوه. رقیه بېګم خپل ورور کامران ته د دی سپکاوي د پور اخېستلو حال واستولو، د هغه فتح خان ته د ایران باچا ته په ماته ورکولو باندی د سزا ورکولو یوې موقعې ته سترګې وې، او دا یې بیخي سم ځائ او وخت و. او فتح خان ته د وطن ژغورنې د جرم سزا ، یانی خپل ملي خیانت کامران د افغاني روایاتو په کمبله کې پټ کړلو.

Downloaded from: ketabton.com

شاه مامود فتح خان په څه پلمه خپلې کوټې ته وباله او چې هغه ورغلو نو سمدلاسه يې ونيولو او په سترګو کې يې ورته د اور سلايي ووهل.

دا هغه فتح خان و چې د هرات د تېپ د نوين کولو په طريقه ، د افغانستان د سپکولو او ويجاړولو په موخه ، د انګريز او فتح علی شاه د سياست سره سم يې ، د فېرنګي استعمار د لويې دښمن شاه زمان په سترګو کې د اور سلايي وهلې وو. او د هغه د ړندېدلو سره سم پر افغانستان د انګريزي استعمار توري تياري وغوړېدلې. او نن چې په ۱۸۱۸ کې په هرات ، د هغه سياست لاندی ، د ايران د هغه باچا فتح علی شاه په حکم، يرغل وشولو، او فتح خان د وطن د ساتنی لپاره يرغلګر لښکر ته ماته ورکړه. نو د هم هغه حالاتو ، چې د ده پکې لوئ لاس و، په نتيجه کې ، د هم هغه باچا په حکم، د وطن دوستی په هم هغه جرم کې ، د ده په سترګو کې هم د اور سلايي ووهل شول. ......

نوئ کورنی جنګ ( ۱۸۱۸)

---

د وزير فتح خان شل ورونه وو، چې د ده د وزارت په وخت يې په ولايتونو کې لوئ قوت په لاس کې و. دوي په اصل کې ، د افغانستان د هغه وخت ټولنيزو حالاتو کې لوئ قوت په ځان پسې کړې وو. که څه هم دوي دا وخت د قبايلي امتياز لرونکو څخه وو، د هغه اولس د ګټو په ضد، تر ډيره بريده په جاګيرداره طبقه بدل شوي وو. خو لا تراوسه د جارګيرداری دَ مخه هغه قبايلي اړيکي لا هم شلېدلي نه وو. او دوي له هغو اړېکو ، د اوسنيو طبقاتي ګټو لپاره کار اخيستلو، دوي چې د فتح خان د ړندېدلو واورېدل ، نو د افغانستان د کورنی جنګ، او له هغه سره ، د هېواد په لارو لارو تلل، او تر نور لاندی کېدلو عمل نور ګړندئ شولو.
د فتح خان ورونه ، پوردل، کوهان دل، او شېر دل چې هغه وخت له ده سره په هرات کې وو، سره د خپلوانو ، خپلی پلارنی مينې هېلمند ته وتښتېدل. په فتح خان پسې ورور عظيم خان او يو بل کشر ورور دوست مامد په کشمير کې وو. د هر لوري د پور اخېستلو لپاره ملاګانې وتړلې شولې.

د عظيم خان په لار ښوونه دوست مامد په کابل بريد وکړلو، او د کامران له ځوئ څخه يې ونيولو، هغه کندهار ته وتښتېدلو، چې هلته مامود او کامران له هرات څخه رارسېدلي وو. او بندي فتح خان ورسره و. مامود او کامران د ديرش زره لښکر سره د کابل په لور وخوځېدل.

دوي فتح خان ته د خپلو ورونو له جګړی څخه د درولو لپاره وويل خو هغه ونه منل. او بيا د کابل کندهار په لويه لار ، د کابل څخه اووه ځلويښت ميله لېری ، په سيد اباد کې کامران په سردارانو د فتح خان د وژلو حکم وکړلو، او دغه

Downloaded from: ketabton.com

کېدلی شي چې فتح خان ته د ړندېدلو او د دی وحشيانه وژلو په وخت دا خبره وریاده شوې وي چې په کوم چل شاه زمان مات شوی و، هم په هغه چل دی مات کړل شو. او دا چې د وطن دښمنۍ بدل غوښې او پلاوونه دی او د وطن دوستۍ پایئ ړندېدل یا نوکې نوکې کېدل دي. سره د دی چې فتح خان د فرنګي او فتح علی شاه لوبه درک کړی هم وه.

هر څه چې وو، دوست مامد د کامران د مخنیوي د پاره د کابل د باندی د ارغندي چوک ونیولو، کامران چې مېدان ته راغلو نو لار يې بدله کړه، او ،،چهار سیاه ،، ته ولاړلو، دوست مامد ورته ،، هندکۍ،، ونیوله. . دلته جګړه ونښتله ، کامران بر ښکارېدلو، دوست مامد د بې باورۍ د پېدا کولو لپاره د جعلی لیکونو چل وچلولو، کامران او د هغه پلار مامود په شپه وتښتېدل، هلته پوردل کندهار ونیولو، دوي تیروات ته ولاړل، هلته چې کوهان دل ورپسې ورغلو، نو دوي هرات ته وتښتېدل، او د یادونی وړ خبره دا ده چې هرات يې ونیولو، دوست مامد او ورونو وربان‌دی کار ونه لرلو. د مامود د هرات د ټپ درمل یې بیا هم ونه کړل..
بیا مامود او د ده ځوئ کامران او وروروسته یار مامدوزیر ، د یو افغانستان څخه جلا ، داسی تر خپل واک لاندې ساتلې و، چې انګرېزي استعمار ګرانو، او د ایران باچا ، پخوانۍ ملنډې په اسانه لګیا ساتلې شوې. او په دی طریقه یې د اباسیند د غاړی نېژدی نیم افغانستان لاندې کړلو، او بیا چېری د هرات جلا ساتل ورته مهم پاتې نه شول.

اوس په ۱۸۱۸ کښې ، د افغانستان حال دا و. چې پېښاور، کابل، غزنۍ، او کندهار ولایتونه د پاینده خان د زامنو، د هرات ولایت د مامود او کامران، او قطبي افغانستان د هغه ځائ د سردارانو په واکدارۍ کې و.

عظیم خان ، د شاه زمان یو زوئ ایوب په کابل کې باچا کړلو او پخپله یې وزیر شولو، د ایوب د باچهۍ نوم پکار و او بس !.

Downloaded from: ketabton.com

## سکهـ افغان کشمکش ۱۸۱۸ تر ۱۸۳۸

په ۱۸۱۸ کې چې فتح خان ووژل شولو، نو په وړومبۍ لمبه کې عظیم خان، و شاه شجاع ته له کشمیر څخه مهر شوی قران شریف ورواستولو او د کومک لوظ یې ورسره وکړلو، خو وروسته چې عظیم خان پېښاور ته راغلو نو له دی لوظ څخه واوښتلو. او لکه چې مخکې ویلي شوي دي د شاه زمان څوئ ایوب یې باچا کړلو، شجاع له لودهیانې ملا وتړله، لومړئ یې ښکته ډیره (ډیره غازیخان) ونیولو او بیا یې د کندهار مخه وکړله. هلته د عظیم خان ورنو مات کړلو، او له هغه ځایه شکارپور ته وګرځېدلو، چې هلته یې تر کال ډیره موده تېره کړله. او د ۵۰۰۰ رساله، یو څه پیاده/پلی او لسو توپو یو لښکر یې جوړ کړلو.
هر سړئ پوهېدلی شي چې فېرنګی په دوړو او باران کې د ښکارکولو ډیره تجربه درلودله. داسی ځائ چې له کلونو وروستو د دوي په دوامداره لاس وهنه جوړ شوی و، له لاسه نه ورکولو.خو لکه چې مخکې وییل شوي دي، لا په کال ۱۸۰۰ م کې یې د افغانستان د لاندی کولو د پاره، د مخ د کنډک وظیفه، رنجیت سنګهـ له ایښی وه.
هلته رنجیت سنګهـ هم و دی سیلۍ ته سترګې پوټې کړې وې. او سمدستی یې په افغانستان غوټه کړله. له ۱۸۱۸ تر ۱۸۳۸ د افغانستان د تاریخ هغه پړاو پېل شولو چې سکهـ او افغان له یو بل سره په لا ډیرو خونړو جنګونو ونښتلو. د سکهـ د یرغل او د افغانانو د هېواد ژغورنی مبارزه نوره تاوده شوله. فېرنګی د خبر په ډیرئ ناست و، جاج یې اخیستلو، څار یې کولو، د امتیاز لرونکو د رانیولو سوداګانې لګیا وې، او د افغانستان د ښکېل کولو لپاره یې سم ځائ ته سترګې پټې کړې وې. او تر څو چې د رنجیت سنګهـ په افغانستان کې د نیوکو خبره وه هغه فېرنګي له لومړئ ورځی څخه د خپل جېب ګوړه ګڼله.
رنجیت سنګهـ په ۲م جون ۱۸۱۸م ملتان د مظفرخان صدوزي څخه واخیستلو، او مظفرخان صدوزئ په جګړه کې توره په لاس ووژل شو.

## د خېراباد او پېښور د رنجیت سنګهـ له خوا په لومړي ځل نیول (۱۸۱۸)

لکه چې ویيل شوي دي، د اباسین په کینه غاړه د اټک قلا رنجیت سنګهـ لا په ۱۸۱۳م کال کې نیولی وه. اوس په دی هر دوړ کې د لومړي ځل د پاره په کال ۱۸۱۸ کې تر اباسین راپوری وتلو. او د اټک قلا ته مخامخ یې ، د خوشال خان خټک د شعرونو خېر اباد ونیولو، چې تر اباسین د لښکرو او نورو تېریدلو راتېریدلو د پاره ډېر اهمیت لري، بیا یې په پېښاور باندی برید وکړلو، ویې نیولو او د اټک وطن پلورونکی والی جهانداد یې ږ ځان له خوا د پېښاور والی ولګولو، خو وروسته د فتح خان ورور یارمامد د رنجیت سنګهـ دا والي بیرته و ایستلو او

Downloaded from: ketabton.com

## د ډېره جات (ډېره اسماعيل خان او ډېره غازيخان نيول ( ۱۸۱۸ تر ۱۸۲۱)

رنجيت سنګهـ د کشمير د نيولو په څو مياشتو کې د اباسين د ښي لوري د سيمې اهم افغان ولايت ډېره جات ته مخ واړولو، په کال ۱۸۱۸ کې يې ډېره غازيخان ونيولو او بيا يې په ۱۸۲۱ کې ډېره اسماعيل خان لاندې کړلو. خو په دی حال کښې ، عظيم خان، د شجاع په لور له کندهار څخه شکارپور ته رهي شولو، شجاع خپل لښکر تيت پرک کړلو او لودهيانی ته بيرته د فېرنګي سيوري ته ولاړ. او فېرنګي ته يې پر انساني بنياد د ځان د خدمت کولو او په افغانستان کې د لاس نه وهنی پر سياست د عمل کولو موقع په لاس ورکړه .

## پېښاور (۱۸۲۲)

په ۱۸۲۲ کې عظيم خان له کابل څخه پېښاور ته ولاړلو، چې رنجيت سنګهـ له افغان خاورې اټک څخه وشړي، رنجيت سنګهـ هم د اباسين په کيڼ اړخ د رود په غاړه غاړه پورته ولاړلو، خو په دی شپو کې د عظيم خان ورور يارمامد ، چې د پېښور والي و، په پټه اسونه رنجيت سنګهـ ته د بډو په توګه واستول، رنجيت سنګهـ بېرته وګرځېدلو او پوهه شولو چې يارمامد او د ده په مور ورونه ، چې وروستو په تاريخ کې د پېښوري برادرانو په نامه وپيژندل شول ، د افغانستان د ګټو خلاف ، د رنجيت سنګهـ او نورو استعمار ګرانو اسونه جوړېدلو ته چمتو دي.

يارمامد، سلطان مامد طلايي او پيرمامد د پاېند ځويان وو، په تاريخ کې دوي د پېښوري برادران په نامه پيژندل شوي دي. د نادر کورنی د سلطان مامد طلايي د کونډې ده.

په ۱۹۲۹ کال کې د غازي امان الله خان د وطن دوست دولت نړولو، او د ده، د افغانستان څخه په شړلو کې د فېرنګي سره د دی کورنۍ لاس و. بيا يې د فېرنګی په مرسته، په افغانستان کې هغه فيوډالي دولت جوړ کړلو، چې هيواد يې د سامراجي نوي استعمار، د طبقاتي استثمار، ، استبداد، لوږو سپږو، بدامنۍ ، رجعت او تر شا پاتی والی په خونړو منګلو کې ساتلی و. تر څو چې د وطن او خلکو ازادي بخښونکي ستر ثور انقلاب د افغانستان د خلق ډيموکريټک ګوند په لار ښوونه پر ۲۷م اپريل ۱۹۷۸ نسکور او دړی وړی کړلو.

## د نوښار اولسي جهګړه (۱۴ مارچ ۱۸۲۳)

Downloaded from: ketabton.com

عظیم خان چې دا خبره واورېدله چې یارمامد ، رنجیت سنګهـ ته اسونه استولي دي نو ډېر خواشیني شولو ، یار مامد د ورور له ویری خیبر ته وتښتېدلو او عظیم خان پېښور ته په ۱۸۲۳ م کال کې بیا راغلو.
هلته رنجیت سنګهـ په ۱۳ مارچ ۱۸۲۳ م په اباسین راپوربوت. ختک، یوسفزئ، او د سیمې نور ټول افغان اولسي لښکر ، د افغنستان د خاورې د ژغورنې د پاره په نوښار کې د لنډي (کابل) رود په کیڼه غاړه غونډیانې ونیولې. عظیم خان او افغان حکومتي لښکرد کابل رود په ښي اړخ وو.
د افغان اولسي لښکر او سکهـ خالصه لښکر لاس په لاس جهګړه ونښتله. پښتنو په سر ښندنه، مېړانه او غضبناکو غوټو او ګزارونو رنجیت سنګهـ په ماتیدلو کړلو، سکهـ اکالیانو نه شول کولی چې پښتنو توریالیو ته تم شي. د اکالیانو مشر ووژل شولو، یوائې د رنجیت سنګهـ د باړی ګورکها لښکر د اولسي لښکر ګوزارونو ته ټینګ شولو. او په هغه ورځ سکهـ لښکر د بشپړی ماتې څخه په ګرانه پاتی شو. خو پښتنو ټینګه ملا تړلی وه چې د رنجیت سنګهـ بیخ وباسي.
عظیم خان، ورونه یې، سرداران او حکومتي لښکر په دی سخته کې او په دی ځائ هم، د کابل رود په ښي اړخ ولاړ ننداره کوله.
رنجیت سنګهـ د افغان سردارانو د بزدلۍ، د وطن په پرتله د سرو او سپینو زرو سره د مینی او بی د څېړنی په افواه د باور د خویونو څخه ګټه واخیستله.او شپه په شپه یې دا ګنګوسه خپره کړله چې د عظیم خان خزانه چې د پېښور سره چېری وه د ده کشر ورور دوست مامد وتښتوله. دا ګنګوسه عظیم خان او د ده سردارانو ته ډېره په چل ورسول شوله. عظیم خان ریښتیا مالوم نه کړل او نه یې د افغان اولسي لښکر له لاسه د وطن د غټ دښمن رنجیت سنګهـ د ډېر ژر په بدلېدونکې ماتی امکان، او د وطن د ژغورنې اړتیاو ته وکتل . بس په غړ غړو او ژړا یې پېل وکړ ، د سر او ږیری ویښتان یې شکول ، سر او سینه یې په سوکانو وهله، او اوښکې یې په ږیره کې ګڼې ګڼې تویېدلی.
د افغان پتمن اولس په مېړانه ، توره، سرښندنه او ټینګه اراده موندلی بری، د جاګیرداری(فیوډلی) رهبرۍ د لاسه یو ځل بیا خاورې ایری شولو. عظیم خان بې د څه لاس ښوررولو مېدان پرېښودلو او په شپه پېښور ته روان شولو، ټول افغان اولسي او حکومتي لښکر یې تیت پرک کړلو.
د ذکر وړ خبره دا ده چې په چچ هزاره کې په ۱۳م جولائ ۱۸۱۳م ، د هرات په کافر قلا کې د ۱۸۱۷م کال په وروستو شپو کې، او بیا په نوښار کې په ۱۴م مارچ ۱۸۲۳م افغانانو د خپل تاریخ د ژوند ګټلې جهګړې یوائې په دی باندی بایيللی دي چې اولس به توره وکړه او په ډېره سر ښندنه به یې دښمن ته ماته ورکړه، خو سالار یا سالاران به د خپل طبقاتي خوئ له کبله د دی مشرۍ وړ ونه ختل. د افغان لښکر د ګټې څخه به یې د حالاتو سره سمه ګټه وانه خیستله. له ویری یا ناپوهۍ، به یا خو یوائې د یو مشر د اس څخه پریوتلو سره به نورو مشرانو زړه وغورځولو، او پښې به یې وختلې، یا به یې په تشه افواه/ګنګوسه

Downloaded from: ketabton.com

په نوبنار کې د افغان د ماتې وروسته، رنجيت د اباسين له غاړې د خيبر درې تر خولې، ټول افغانستان لاندې کړلو. او ټوله سيمه يې وسپړله. بيا يې وطن پلورونکي يار مامد باجګزار ولګولو.
د عظيم خان د خزانې د غلا ګنګوسه دروغ شوله، او په يوه خبره، د افغانستان برئ په ماته بدلونکې عظيم خان اوس هم په افغانستان حکومت لا د ځان حق بللو، او کابل ته رهي شولو، خو په لاره کې د افغانستان د غمه نه، د خزانې له غمه په لټهه بند کې زړه چاودلې مړ شولو.
د فتح خان د وژلو له ورځې (۱۸۱۸) څخه تر نوبنار تر جګړې پورې (۱۸۲۳) په پينځه کاله کې رنجيت د يو لړ څه په پرته، د افغانستان د اباسين د غاړې ټوله سيمه ( ډيره غازيخان، ډيره اسماعيل خان، پېښاور او هزاره) ونيوله. استعمارچي ليفټنټ جنرل ميکمن له دې يو سل پنځه کاله وروسته په ۱۹۲۸ کې په خپل کتاب ،، افغانستان،، کې پر مخ ۹۵ داسې ليکي، دا خبره د ذکر وړ ده، چې اوس په ۱۸۲۳ کال کې د اباسين څخه تر غرو تر لمنو افغان ولايتونه بيخي هغسې ، لکه چې برتانيا د سکهـ سلطنت او سکهـ سرحد نيولې دې، او بل دا چې کټ مټ تر هغه ځايه چېرې چې نن هم زياتره برتانوي انتظامي پوله جوړه ده د رنجيت سنګهـ لاندې و،، .

## د پايند د زامنو د افغانستان ويش (۱۸۲۳)

---

د پايند ، چې شاه زمان په ۱۸۰۰م کال کې وژلې و، يويشت ۲۱ زامن پاتې شوي وو. د پايند مشر زوی فتح خان په ۱۸۱۸م کال کې، کامران، د ايرانم د باچا فتح علي شاه په وينا ړوند کړلو، او بيا يې ووژلو، له دې خخه وروسته بل مشر عظيم خان ، په ۱۸۲۳م کال کې د نوبنار د ماتې وروسته مړ شولو، نور نو د يوې مور څخه يار مامد، سلطان مامد طلايي او نور وو چې وروسته د پېښاوري برادران په نامه وپېژندل شول. د بلې مور څخه پردل، کوهان دل، شېردل، او نور وو، چې د دل برادران يا کندهاري برادرانو په نامه پيژندل کېدل. دوي تر پايه د کندهار ولايت نيولې و، نواب جبارخان چې وروسته يې له انګرېزانو سره ښه راشه درشه لرل، د بلې مو څخه و. او تر ټولو کشران ورونه دوست مامد او مامد خان لا له بلې مور څخه وو، چې دوست مامد پکې مشر و.
دلته رنجيت سنګهـ د افغانستان د اباسين د غاړې ولايتونه لاندې کړل، هلته عظيم خان مړ شولو، او په ميراثه کې يې د ديرشو کروړو روپو ( چې په هغه وخت کې ديرش لکهـ پاونډ سټرلنګ قيمت و) جايېداد پاتې شولو. د سردارانو ورونو د يوبل ځله خوړلو لپاره دا ښه غوښه ور هډ و. دا وو چې په دوو ډلو کې سره

Downloaded from: ketabton.com

په دی هړ دوړ کې ایوب باچا له کابله څخه وتښتېدلو او په لاهور کې د رنجیت سنګهـ ننواتی او وظیفه خور شولو په دغه ۱۸۲۳م کال کې دی سردارانو ورونو د کابل وېش داسی وکړلو:.
ا. د عظیم خان پاتې جایيداد به ټول د دل برادرانو سره وي. چې د باندني يرغل د مخنيوي لپاره به لګيږي. د کندهار ولایت او سیمې به هم د دی ورونو سره وي.
ب. د پېښاوري ورونو سره به سکهر، لوګر او نیم کابل ولایت وي، د رنجیت سنګهـ لاندی کړي افغان ولايتونه، ډېره جات او پېښور به هم له دوي سره وي.
ج. دا پاتی نیم کابل، کوهستان، او کوه دامان د دوست مامد په ونډه شول.
د. د جلال اباد ولایت، او سیمې د یو وراره زمان په برخه شوی.
ر. د غزني ولایت او سیمې د دوست مامد د ورور مامد خان شوې.
ن. غلجی سیمې د نواب جبار خان په برخه وختلې.
په دا ډول د افغانستان د خاورې ویشل ، او نوکې نوکې کول، د دی ورونو د وطن دښمنۍ سره دا هم ښکاره کوي، چې د یو څو کسانو پرته ، د وخت استحصالي طبقې بیا په پرته د دوي لوړ قشرونه، چې دی ورنو یې نمایندګي کوله، د خپلې خاورې او خلکو څومره غټ دښمنان وو.
یوې خوا ته افغان اولس، پرله پسې ، محنت، زیار او خواري کښله، هېواد یې ابادولو، هر کله چې به پر وطن د باندني پرغل د مخنیوي اړتیا وه نو توری ته به یې لاس کولو، او د وطن په ننګ به ټینګ ودرېدل، په ډېره مړانه او سر ښندنه به یې د خپلې خاوری ژغورنه کوله. بل لوري ته ، د وطن او خلکو دښمن دا قشرونه ، چې د هېواد د زیار کښوخلکود محنت هر څه یې لوټل، د وطن د پېداوار ټول وسایل یې لاندې کړی وو. په مرنۍ خاوره یې ورور وژنه او فساد جوړ کړی و. او د دی ټولو سربېره به یې د باندني دښمن سره هم لاس وو. او د خپلې خاورې او خلکو خلاف به یې نس ورسره ګډ و. هغه ته به یې یو خو هیواد بې د ټکه ټوکه ور وسپارلو او بل به یې په هغه وپلورلو، او د هغې عوض به یې واخیست. تر څو چې د خپلو استحصالي، وطن دښمنه، شومو غرضونو د پاره یې وطن ځینې کنډ کپر کړلو.
او دغو چې یې د وطن استحصال کولو، او وطن پلورونکي وو، د وطن سیاسي واک او اختیار هم د دوي په لاس کې وو. او ښه مړونه لا هم بلل کېدل. او اولس چې یې محنت کولو، د وطن په ننګ یې مړانه کوله، او سرونه یې ښندل، استحصال یې کېدلو، له واک او اختیار محروم وو، او د وخت د زمامدارانو، او امتیاز لرونکو له لاسه سپک لا له لاسه وو. د جاګیرداری ټولنیز نظام، بلکه د هر طبقاتي معاشي ټولنیز نظام به هرو مرو دغه نتیجه وي.

Downloaded from: ketabton.com

په ۱۸۲۳م کال کې د افغانستان سیاسي صورتحال (وضع) دا وه چې هرات تر مامود د واک لاندې و، چې دی په ۱۸۲۸م کال کې مړ شولو، نو یې زوئ کامران واکمن شولو. د اباسین د غاړی افغانستان رنجیت سنګهـ لاندې کړی و. او پر مخ غلی و. دل ورونو کندهار نیولی و. قطبي افغنستان جلا جلا واکدارانو ځله وېشلی و. شاه شجاع تر فېرنګي تر سیوری لاندی ، د نورو ورانیو لپاره سترګي پوټې کړی وې.
دا وخت یواځی په کابل کې د دوست مامد زړه غوښتل چې افغانستان یو کړي، جلا جلا واکداری ورکې کړي، او د رنجیت سنګهـ نیولی افغنستان هم آزاد کړي.
دوست مامد په دوه کاله کې د کابل ولایت هغه بله نیمه او د نواب جبار خان په لاس کې ولایتونه، د ځان تر واک لاندې سره یو کړل. او بیرته یې د یو افغان دولت بنسټ کښېښودلو.
د عظیم خان زوئ حبیب الله چې تش د نامه مشر ټاکلی شوی و. په دوه کاله کې دوست مامد ، و یارمامد ته پېښاور ته وشاړه.

## د نیولی افغانستان د پښتنو اولسي جنګونه او سید احمد شاه بریلوي ۱۸۲۴ تر ۱۸۳۱

---

په دی شپو کښې رنجیت سنګهـ ته د افغانستان د نیولو سودا ډیره ګرانه پریوتله، ۱۸۲۴م کال کښې له اټک څخه پورته د اباسین په دواړو غاړو پرتو د تور غره افغانانو، ( چې اوس په مردان او هزاره اولسوالو کې دي) د رنجیت سنګهـ جرنیل هري سنګهـ نلوه ته کلک ګوزارونه ورکړل. رتجیت سنګهـ خپل جرنیل په ډېره ګرانه له ټکېدلو څخه بچ کړلو.
په دی شپو کې د هندوستان د پنداري تحریک د مشر امیر خان افغان ، یو پېرو د بریلي سید احمد شاه و. د پنداري تحریک وروروسته چې امیر خان په ۱۸۱۹م کال کښې د ټونک نواب جوړ شو، نو احمد شاه وړومبی خپل پېروان له کلکتی څخه خانه کعبی ته بوتله، بیا په ۱۸۲۶م کې بېرته ډلي ته ولاړل. او د مذهبي جنګ ږغ یې وکړلو. له ټونک څخه د سندهـ په لار کندهار ته راغلو خو هلته یې ملاتړ ونه شولو. او له هغه ځایه د روه د غرونو په مرکزي سیمه تیر شو، او د پېښور د ولایت د یوسفزو په سیمه کښې یې په پنجتار کښې په ۱۸۲۸م کال کې ځائ جوړ کړلو.
ځکه چې د پېښاور او هزاری پښتانه د خپل وطن د خپلواکی لپاره له سکهـ سره په جنګ اخته وو. رهبري یې غوښتله، د سید احمد شاه له مذهبی عقایدو څخه پرته ، د وطن د خپلواکی لپاره، د سکهـ خلاف د جنګ لپاره یې سید احمد ته په زړه کې ځائ ورکړلو. وروسته دا ځائ د پټنی د وهابي تحریک اوبیا په ۱۸۵۷ کال کښې د هندوستان ازادئ د تحریک مهم سنګر و. وروسته په ۱۸۶۳م کال

Downloaded from: ketabton.com

هر څه چې وو ، د آزادئ غوښتونکي پښتانه مېړني په احمد شاه راغونډ شول لومړئ يې د پېښور په ناوه (وادئ) کې په اکوړه کښې په سکهـ برید وکړلو، که څه هم سکهـ سالار په شا کړل خو بیا هم د وطن پالونکو لښکر ډېر پیاوړئ وو. په ۱۸۲۹ کال کښې ، د احمد شاه په مشرئ کښې د ننګیالیو او سرتېرو پښتنوخلکو دی لښکرد سکهـ باجګزار یار مامد ته ماته ورکړه، او پېښاور یې ونیولو، سلطان مامد طلائ سکهـ جنرل شېرسنګهـ او جنرل وېنچوره په ډېره ګرانه بچ کړلو. بیا نو سکهـ لښکر د اباسین کینې غاړی ته پوری وتلو، ، دا وخت د غرونو او سمو نور افغانان مېړني خلک په وطنپال لښکر کې راټول شو.
په ۱۸۳۰م کال کې یې بیا په سکهـ لښکر برید وکړلو، خو هري سنګهـ ماته ورکړله، او د اباسین څخه یې لویدیز لوري ته بیرته راپوری ویستلو، وروستو دی ملي لښکر پېښور ونیولو، او له سکهانو څخه یې ازاد کړلو، سلطان مامد طلایي د پښتنو خلکو د لښکر د سالار احمد شاه بریلوي تر واک لاندی شولو.
سید احمد شاه بریلوي چې پښتانه له سکهـ څخه ازاد کړل نو یې دغه پښتانه او سیمې د خپلو پېروانو د زمامدارئ لاندی کړل. نو د پښتنو په سترګو کې احمدشاه بریلوي ډېر پرېوتلو، په دی حالاتو کې سلطان مامد طلایي ، سید احمد بریلوي ته ماته ورکړه. او بیا وروسته په می ۱۸۳۱م کال کښې سکهـ لښکر په بالاکوټ کې تر احمد شاه جار وتلواو احمدشاه یې ووژلو، نایبان یې پښتون اولس سره تیت پرک شول او کهول یې بېرته د ټونک نواب ته ولاړلو.
د نوښار د ۱۸۲۳م کال له ماتی څخه وروسته، د ۱۸۲۴م څخه تر ۱۸۳۱م پوری د سکهـ نیولی افغانستان د خپلواکئ لپاره د افغان اولسي لښکر و پخپله، بیا وروسته د سید احمد بریلوي په مشرئ کې د پرله پسی مبارزی دا نتیجه وختله چې سکهـ یرغلګر لښکر یې د اباسین کینې غاړی ته پوری ایستلو، او د پېښور څخه تر هزاری پوری ټول افغانستان یې له سکهانو څخه ازاد کړلو، خو په پېښور کې سلطان مامد طلایي بېرته واکمن شولو، د سکهـ ورسره هیڅ تعلق پاتی نه شولو، یاني د وطن فروشانو باییلی افغانستان ، اولس بېرته ازاد کړلو خو وطن پلورونکئ یې بیا هم واکدار پاتی شولو ، او دا ډول کارونه څو څو ځلې شوي دي.

## امیر دوست مامد خان (۱۸۲۶)

په دی دوران کې د ۱۸۲۳ له ویش څخه وروسته، دوست مامد له کابل څخه ډېر ګرندئ، په جلال اباد، منځنی افغانستان، غزنی او ختیز افغانستان ، مرکزی افغان دولت بېرته ټینګ کړلو ، او په ۱۸۲۶ کښې یې د مرکزی افغان فیوډالی باچاهی دولت بنسټ کښېښود. او د امیر دوست مامد په نامه د افغانستان نوی باچا شولو.

Downloaded from: ketabton.com

## د فېرنګی د تجارت، ترقۍ او امن جوړولو هلې ځلې ۱۸۳۱ تر ۱۸۳۴

دلته له ۱۸۱۸ کال څخه تر ۱۸۳۱ کال، سکهـ او افغان له یو بل سره په خونړو جنګونو ښخ وو، سخته مبارزه وه، هلته فېرنګی له هرې ویرې ازاد، له پنجاب پرته، نور ټول هندوستان په خپل استعماری سلطنت ګډ کړلو. اوس یې نو پنجاب، سندهـ او افغانستان ته د ګامونو د اخیستلو د پاره جاج اخیستل پیل کړل. په ځان یې د امن خوښونکی او تجارت ته د وده ورکوونکی کمپله واچوله.
انګریز په خپل استعماری سیاست کښې سندهـ لا له پخوا جلا ساتلی و. که څه هم د رنجیت سنګهـ د سندهـ نیولو ته زړه کېدلو، خو انګریز که یو خوا د ډېره جات او پېښور افغان ولایتونو په نیولو نه خوابښینی کېدلو خو بل خوا یې رنجیت سنګهـ د سندهـ په لور هم نه پرېښودلو. په ۱۸۰۹ م کال کې چې د فېرنګي استاذي الفنسټن شاشجاع ته وړاندیز وکړلو چې، انګریز به په سندهـ د شاه شجاع واکمني ومني ، که دی د فېرنګي سره څه لوظنامه وکړي، نو ګورنر جنرل د الفنسټن د دی وړاندیز څخه ډېر په سختۍ پر شا شولو. او ویې ویېل چې دا تجویز د سندهـ د حالاتو په باره کې ناپوهی څرګندوي. مطلب یې دا و چې ډېر ژر به بې د بل چا د مرستی سندهـ به د خپلو کورنیو حالاتو په نتیجه کې پخپله د فېرنګي لمن ته ولویږي. دسندهـ جاګیردارو واکمنانو د انګریز مخنیوی نشو کولی. نو فېرنګی ته د بل چا د منځ ته را اچول پکار نه وو.
لنډه دا چې فېرنګی په دی شرایطو کې په اباسیند او نورو دریابونو کې د تجارت د پرانیستلو کمپله په ځان واچوله، او یو لور ته یې په افغانستان کې د لاس وهنی لپاره د افغانستان او شاوخوا هر اړخیز جاج اخیستل پیل کړل. او بل خوا یې ، د رنجیت سنګهـ ، شجاع او ایران د فتح علی شاه پره یو ځل بیا چمتو کړله چې افغانستان د فیرنګی د توپک خلی ته ورولې.

## د پوټنګر او برنز د جاسوسۍ پلاوي۱۸۳۱ تر ۱۸۳۴

دا وخت د برتانوی هندوستان ګورنر جنرل لارډ ولیم بېټنک و، په کال ۱۸۳۱م کښې یې کرنل پوټینګر ، د سندهـ امیرانو ته په ښکاره تجارتي او په اصل کې د جاسوسۍ په پلا واستولو. دی پوټینګر په ۱۸۱۰م کال کې بلوچستان، افغانستان او ایران ، د دی هیوادونو په جامو او کړه وړه کې په پښو کتلی وو او د دی په باره کې یې د جاسوس په حیث فېرنګی ته ډېر مالومات ورکړي وو. وروسته د دی پلاوي یو غړي لېفټننټ برنز له سمندر څخه د اباسین او بیا د پنجاب د نورو دریابونو د اوبو په لار ، د برتانیې د باچا له خوا په سوغات کې اسونه ، په لاهور کې، د رنجیت سنګهـ دربار ته ورسول. ،، دا د اوبو په لار د اسونو سوغاتو، یواحی د دریابونو او نورو حالاتو جاسوسۍ غرض درلودلو. د ډول ډول څار

Downloaded from: ketabton.com

لیفټننټ جنرل میکمن د خپل کتاب ،، افغانستان،، پر مخ ۱۰۵م داسی
لیکي، د لارډ ولیم اندیښني ، د ده د هندوستان د سوکالی د پاره
عملیاتوڅخه، د نسل انساني لپاره، د پرامن او تجارتي منځنی اسیا ، ګټو
ته راګرځول شوی وې.

Downloaded from: ketabton.com

## لیفټنټ الیګزینډر برنز د بخارا په پلا ( ۱۸۲۳ تر ۱۸۳۴ )

د سندهـ او د پنجاب د څار وروسته ، دی ګورنر جنرل لیفټنټ الیګزینډر برنز ، په ۱۸۳۲
کال کې ، بخارا ته واستولو. په ۱۸۳۲ کې دی د لودهیانی رهي شو، د لاهور په لار د اباسیند
په غاړه اټک ته ورسیدلو، په مارچ کې دلته تر اباسېند راپورېوت، او د پېښور په لار کابل ته
، پر ۱۰ می ۱۸۳۲ ورسېدلو، له ده سره د ده کشمیری مرستیال موهن لعل هم ملګری و.
تر برنز د مخه، د اتلسمي پېړئ په وروستېو کلونو کې ، فېرنګی فارسټر، په ۱۸۱۰ م کال
کې، مشر پوټېنګر په ۱۸۱۲م کال کې ، ښاغلی ډوري په ۱۸۲۶ کال کې ، د بنګال سروس
سټرلنګ په ۱۸۲۷م کال کې، چارلس مېسن په ۱۸۲۸م کال کې ، د بنګال سویلین فریزر په
۱۸۲۹م کال کې، امریکن هرلان ، او بیا د بخارا یهودیانو ته د عیسايیت د تبلیغ په پلمه
راغلی وولف، پو نیم څه په پرته نور ټول په افغانستان کې د ملا او پیر په جامو کې ګرزیدلي
وو. له دی سره ، هغه یورپین او انګرېزان چې نومونه یې لا تر اوسه نه دی ښکاره شوی،
هم ډېر دي، په دوي کې ډیرو خپل یاداشتونه هم لیکلی دی. د دوي یوائینی موخه د افغانستان
څار او جاسوسی کول وو.
**Error! Bookmark not defined.**هر څه چې وو، الېګزینډر برنز په کابل کې د نواب جبار
خان سره ډېرې شپې تېرې کړلی. بیا په افغان جامو کې د قطبي افغانستان په لار
بخارا ته ولاړ. هلته یې هم باچا او وزیر تود هرکلی وکړ. بیا په ایران کې د مشهد په لار ،
خلیج فارس ، او له هغه ځایه کلکتی ته ولاړ. له هغه ځایه برتانوی حکومت انګلستان ته
واستولو. چې د منځنی اسیا په مسله ، د ګورنر جنرل ولیم نټنګ ،، د نسل انساني په عشق،،
کې د ویلېدلو حال ورکړي. په تېره یې له روس څخه د افغانستان د ساتلو په ضرورت ډېر
زور واچولو.
لنډه دا چې فېرنګی د خپل څرک برنز په لاس د افغانستان، منځنی اسیا او ایران څار وکړ.
نو یې په افغانستان کې د ښکاره او نیغ په نیغه د لاس وهنی پرېکړه وکړه.
لا تر اوسه چې د پوټنګر او برنز د څار او جاسوسی عملیات لګیا وو، فېرنګي د ایران باچا
فتح علی شاه، رنجیت سنګهـ ، او شجاع یو ځل بیا پر افغانستان ور ایله کړل.[1]

## د فتح علی شاه، رنجیت سنګهـ پره او نیوکې ۱۸۳۲ تر ۱۸۳۴

په هرات اتم یرغل ۱۸۳۲ :
په ۱۸۳۲ م کال کې چې برنز د لومړي ځل لپاره افغانستان ته ولاړ، د ایران باچا فتح علی
شاه ، خپل ځائ نشین شهزاده عباس ، د ایراني خراسان والي کړلو. او د هغه ځوئ په هرات
د اتم ځل لپاره یرغل وکړلو. محمود په ۱۸۲۸م کال کې مړ شوی و، او ځوي کامران یې د
واک واګي په لاس کې نیولي وو. هغه خپل وزیر یارمامد ، شهزاده ته مشهد ته واستولو،
شهزاده چې عباس مرزا نومېدلو دغه وزیر هلته بندي کړلو، او د هرات ده ته د ورکولو لپاره
یې ډېر زور وربادی واچولو، او تشدد یې پری وکړلو، خو وزیر یې مات نه کړی شو، بیا
چې شهزاده ناجوړه شو نو وزیر یې ایله کړلو، او ځوي یې د هرات قلا بندي واخیستله، په
دی یرغل ، فتح علی شاه ، هغه له پخوا د فېرنګي ورکړی موخه لکه د افغانستان سپکول او
ویجاړول سرته رسول غوښتل. د دی ورانیو برسېره، ده دا هم غوښتل ، چې د افغان اولس

[1] افغان جرګه ډاټ نیټ

Downloaded from: ketabton.com

په دی شپو کې باچا فتح علی شاه، او ولیعهد شهزاده عباس مرزا ، په یو څو میاشتو کې پرله پسی مړه شول، او د هرات قلا بندي پائ ته ورسېدله. خو بیا یې وطن وران او ویجاړ کړلو، او د افغانستان مخ ته یې داسی دوړې جوړې کړې چې د فېرنګي استعمار پکې پټ شو.

## شجاع ( ۱۸۳۲ تر ۱۸۳۴)

په هرات د دی یرغل د مخه، فېرنګي د ژبې لاندې شجاع ته ووییل، چې د ده په یو ځل بیا ځان ازمویلو دوي هیڅ اعتراض نه لري، که څه هم دا ضروري نه ده، که دی مات شي ، نو بیا به یې هم الاونس دوه چنده شي. مطلب دا چې، شجاع ته یې په افغانستان له لودهیانې څخه د دویم برید اشاره د ډیر مکر او فریب په ژبه وکړله. الاونس یې و دی ته پریښوو چې ، ګوره د ناکامۍ وروسته به د ده ساتل څومره ګټور وي. په دی اس کې به له دی وروسته د زغلېدلو سپک او توان هم وي او که نه؟

د دی اشاری وروسته شجاع ، رنجیت سنګهـ ته لیکل پیل کړل. په خپله استعمارګران وایي، چې له دی سره د انګریز په دی مهم کې نور زړه ولګېدلو، او له ماتې وروسته د الاونس د ختم کېدلو د امکان خبره یې پرېښودله. پر ځائ د دی یې د الاونس دریمه لا د مخه ورکړله. ، او د مکر خبره دا ده ، چې د شجاع و یرغل ته د چمتو کولو سره سم یې و ده او امیر دوست مامد دواړو ته ووییل ، چې برتانیه په دوي کې د یو څنګ هم نه وهي. شجاع په افغانستان یرغل ته تیارول او بیا د بې پلوی او لاس نه وهنی ناره کول ، دغه خو د استعماري سیاست کمال دی. ! امیران سندهـ هم له شجاع سره د مرستی لوظ وکړلو.

په ۱۸ مه فروری ۱۸۳۳م کال شجاع له لودهیانې څخه مخه راوکړله، رنجیت سنګهـ و ده ته یو لکهـ روپۍ ورکړلې، او دوي دواړو ځان پله پوهه کړلو، شجاع شکار پور ته راغی، امیران سندهـ په شا شول، په ۹مه جنوری ۱۸۳۴ م کال یې له روهړئ څخه دولس میله د سندهـ لښکر ته ماته ورکړه، امیران سندهـ پینځه لکهـه روپۍ ( ۵۰۰۰۰ سټرلنګز) ورکړلې. د باړې لښکر یې د هندوستاني روهیله څخه جوړ کړلو، او د سکاټ لینډ کیمبل ، چې پخوا د کمپنۍ په پوځ او بیا په سکهـ پوځ کې وو ، اوس د شجاع د دی لښکر مشر و.

## په کندهار یرغل (۱۸۳۴)

شجاع په ۱۸۳۴م کال کې کندهار قلا بند کړلو، دل برادرانو له دوست مامد څخه مرسته وغوښتله، شجاع درې میاشتې وروسته په ښار برید وکړلو، چې شنډ شو، دوست مامد هم راورسېدلو، شجاع د کندهار و لوېدیځ ته ځائ ونیولو، د دوست مامد او کندهاري ورونو ګډ لښکر پرې برید وکړلو، د لښکر فېرنګی مشر کېمبل سخت ټپي شو، د هندستاني لښکر لکۍ ووتله، او په ۲ م جون شجاع ماته وخوړه او سیستان ته وتښتیدلو، بیا له هغه ځایه خان قلات میر محراب خان چې د میر مامود خان زوئ او میر نصیر خان نوري نمسی و، ته ولاړلو. او بیا له هغه ځایه ژوندی د قېرنګي سیوري ته ورسېدلو. کیمبل ټپي ونیول شولو، وروسته د شېر مامد په بلخ کې د افغان لښکر مشر و، ویل کېږي چې په ۷-۱۸۵۶ م کال کې مړ شو.

## د رنجیت سنګهـ په پېښور یرغل ۱۸۳۴

لکه چې مخکې وییل شوی دی، شجاع د فېرنګي په خوښه په ۱۸۳۴م کال کې په افغانستان د کندهار له لوري یرغل وکړلو، رنجیت سنګهـ هم په دی منصوبه کې د شجاع سره ګډ و، د دی لپاره یې ده ته پېسې ورکړی او ځان یې پله پوهه کړلو، په ۱۸۳۲م کې په هرات د فتح علی شاه ، او په ۱۸۳۴م کې په کندهار د شجاع یرغلونه، که یو له بل څخه جلا واقعې دی،

Downloaded from: ketabton.com

رنجیت سنګهـ په دی ځل په لومړی پلا د بنو او کوهاټ افغان سیمې ونیولې، د شجاع او فېرنګي اصلي دسیسه /سازش سرته ورسېدلو، رنجیت سنګهـ پېښور ونیولو او دی بېرته لودهیانې ته ولاړ، له دی وروسته د ښکته ډېرو علاقې، ( د ډیره غازي خان خواوشا، د اباسین او سلېمان غره تر منځ د اباسین د غاړی اوږده تراړه) د امیران سندهـ ، انګریز او رنجیت سنګهـ د سازشونو په نتیجه کې رنجیت سنګهـ لاندی کړی ـ او دلته یې د سلېمان غره په درو کې زړې قلاوې بېرته ابادې کړې.

## امیر دوست مامد خان، رنجیت سنګهـ ، انګرېز او پېښور ۱۸۳۴ تر ۱۸۳۸

---

امیر دوست مامد خان غوښتل چې په افغانشتان کې حالات سم شي. د سردارانو له لاسه جلا جلا افغان خاوره یو شي. او د یرغلګرو لاندی کړی افغان خاوره پېښور او نوره ، بېرته ازاده کړي. او په هېواد کې معاشی سیاسی او ټولنیز ژوند پر مخ رهي شي. دوست مامد د دی لپاره د لارو امن او د د تجارت و مخ تګ ته ډیره اهمیت ورکاوه.
ده له انګریز سره، د خپلواک ملي حاکمیت لرونکي، او یو متحد افغانستان ، د سیالی او برابرئ په بنسټ اړیکي جوړول غوښتل، او غوښتل یې چې ، فېرنګی ده ته د افغانستان په خاوره یرغلګر رنجیت سنګهـ په خلاف کومک ورکړي. خو دی په دی پوهه نه و، چې د کورني وجوهاتو په پرته، د افغنستان په کنډ کپر کېدلو کې د فېرنګي د سازشونو /دسیسو هم لوېي لاس و. پېښور خو د فېرنګي، شجاع او رنجیت سنګهـ په سازش مرییي شوی و. او بیا دا چې په اصل کې فېرنګي پخپله پېښاور ته سترګې پټې کړې وې. رنجیت سنګهـ خو هسې یو اله کار و. او د انګرېز د اصل اهدافو یې هسی ځان ناخبره اړولې و.
هري سنګهـ چې افغان خاوره لاندې کړه، نو دوست مامد د دی د ازادئ لپاره په مبارزه لاس پورې کړلو، ده چې د دی لپاره کوم ګامونه واخیستل، په هغو کې ځینې داسی وو،
انګریز ته یې د دوستی لاس وروړاندی کړلو، او د رنجیت سنګهـ خلاف یې کومک وغوښت. خو دوست مامد دی ته نه کتل ، چې فېرنګي خو ټول هندوستان په دوستی کې نیولې و. او په افغانستان کې یې د لاس وهنې حق په ،، دوستی،، کې ترلاسه کړی و.
هر څه چې وو ، خو دوست مامد بیا په ۱۸۳۵م کال کې د پېښاور د ازادولو لپاره پخپله په سکهـ برید وکړلو، خو د سردارانو د سازشونو په نتیجه کې په ۱۱ م می ۱۸۳۵م د سکهـ تر مخ بېرته په شا ولاړ.وروروسته چې ، په مارچ ۱۸۳۶م کال کې د لارډ ولییم بنټنګ پر ځائ لارډ آک لېنډ د برتانوي هند ګورنر جنرل راغلی، نو دوست مامد د مبارکی او هرکلی لیک ورواستولو، خو د انګریز د افغانستان په ضد د محاذونو جوړولو او لاس وهنو سربېره ، لارډ آک لېنډ ځواب ورکړو ، ،، برتانوي حکومت د نورو آزادو دولتونو په جارو کې د لاس وهنې عادت نه لري .،، .

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - ebooks library**